ټولګه ۳

له مثبت پيغام سره ادبيات
د ماشومانو او تنکيو ځوانانو له پاره ځانګړی رمان

# د پيريانو کلي

ګل رحمن رحماني



ACKU

د پيريانو کلي • ګل رحمن رحماني

پرله پسې شمېره: ۳۷۸

د لوی او مهربانه خدای په نامه

# ډیرپیانو کلي

گل رحمن رحماني

ناول ۳

له مثبت پیغام سره ادبیات

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لەپاره ځانګړی رمان

توانا ځواکمن


## د کتاب ځانګړنې

- **د پېرېانو کلی** (د ماشوم او تنکي ځوان د ادبي جشنوارې لومړنۍ ټاکنه توانا/ ځواکمن)

**لیکوال:** ګل رحمن رحماني

**سمون‌کې( اېډېټر):** محب‌الرحمن محب

**د پښتۍ طرح او انځورګر:** احمد مومني

**د پاڼو جوړونه:** محمد مظفري

**پرله پسې شمېره:** ۳۷۸

**د مخونو شمېر:** ۱۱٤

**چاپ شمیر:** ٤۰۰۰ ټوکه

**خپرندوی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)

**لومړی چاپ:** ۱۳۹۷هـ.ل. (۲۰۱۸ز) کابل – افغانستان

**برېښنالیک (ایمېل):** publication@acku.edu.af

**وب‌پاڼه:** www.acku.edu.af

**شابک:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۰۷-۸۱-۱/ISBN 978-9936-607-81-1

- **د پښتو ژبې داوران:** نصیراحمد احمدي، شریفه پاخون او علم ګل سحر



- **د جشنوارې مسوول:** کاظم‌حمیدي- رسا
- **همغږی‌کوونکی:** رضا نوري
- **علمي شورا:** انا صفري، عبدالوحید وفا، فیض محمد نایاب-عطایي، رشمي دانګل، محمدانور وفاسمندر، ضیا رفعت او لعل اقا شیرین.
- **مالي څانګه:** عبدالستار اعظمي
- **د تدارکاتو څانګه:** حامد نیازي
- **توزیع:** زینت‌الله قانت او محمدفیاض ستانکزی

- د چاپ حق د خپرونکي لەپاره خوندي دی.
- د کتاب له مطالبو څخه د ماخذ په ذکر کولو سره ګټه اخستل مجاز دي.
- لیکوال د کتاب د منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظریاتو څرګندویي نه‌کوي.



## د خپرندوی خبرې

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د ادبي اثارو پنځول یوه جدي اړتیا ده او دا کار د هغوی په روزنه او فکري وده مثبته اغېزه لري. د دوی لهپاره د مطالعاتي منابعو چمتو کول او د ماشوم د ادبیاتو غني کول مهم ګڼل شوي او دا کار رغنده تاثیرات لري. تر دې دمه د ماشومانو لپاره د شعر برخه یو څه تمه بخښونکې ده؛ خو داستاني ادبیات په نشت ګڼل کېږي. په حقیقت کې د ماشوم لپاره د داستان لیکنې هڅې تر ډېره د لیکوالو او فرهنګي بنسټونو له ذهنونو وتلې دي او هغه څه چې په دې برخه کې باید تر سره شوي وای، ډېر کم تر سترګو کېږي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز یو غیر انتفاعي بنسټ دی چې له دوو لسیزو را هیسې یې د خیر ښېګڼې له نورو خدماتو سره د افغان ماشومانو او لویانو لپاره ګڼ شمېر کتابونه چاپ کړي او په دې برخه کې له خپل وس او توان سره سم فعالیت کوي.

دوی غواړي چې په افغاني ټولنه ( ماشومانو او لویانو ) کې د کتاب لوستنې فرهنګ پیاوړی او خلک له فکري اړخه وروزي.

په دې هېواد کې د کتابونو، او په خاصه توګه د ماشومانو د کتابونو د چاپ او په دې برخه کې د لیکنو برخه خواره ده او تر دې دمه لا د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري ودې لپاره جدي او اساسي کار نه دی شوی.
د افغانستان د معلوماتو مرکز همدې تشې ته په کتلو سره ځینې ګامونه پورته کړل چې یو اساسي ګام یې دا و چې افغان لیکوالان وهڅوي؛ تر څو ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې مرکز د ۱۳۹٦ لمریز کال د لړم یا عقرب په میاشت کې د ماشومانو لپاره د داستان لیکلو عمومي سیالي پر لاره واچوله. دوی لیکوالان وهڅول چې د ماشوم لپاره په پښتو او فارسي ژبو کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې جشنوارې داسې شرایط نه درلودل چې لیکوالانو ته سخت وي او دوی د داستانونو لیکلو ته زړه ښه نه کړي.
د دې جشنوارې هدف دا و چې افغان لیکوالانو ته د دې زمینه برابره شي؛ تر څو د ماشوم د ادبیاتو د ودې لهپاره یو څه وپنځوي او په دې توګه خپله ادبي وړتیا، خلاقیت او له لیکنو سره مینه لا پیاوړې کړي.

**د دې جشنوارې عمومي اهداف:**

۱: په افغانستان کې د لیکوالانو ملاتړ او تشویق؛ تر څو د ماشوم لهپاره جذاب، زړه راښکونکي او داسې داستانونه ولیکي چې له خوند سره تعلیمي پیغامونه هم ولري.
۲: ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته د داسې داستانونو پنځول چې سوله ایز مـفاهیم ولري، دوی د یوبل منلو ته راوبولي، په دوی کې د تحمل، صبر، جنسیتي برابری...درک پیاوړی کړي. دا کتابونه په ساده ژبه لیکل شوي او له ۹ تر ۱۲ کلنو ماشومانو لهپاره دي.
۳: افغان ماشومانو ته د پیاوړتیا احساس ورکول او د لوستلو له لارې د دوی د زده کړې او لوست د مهارت وده.
له نېکه مرغه دا جشنواره د برخه اخیستونکو له خوا ښه استقبال

شوه. د افغانستان له بېلابېلو سيمو څخه ډېرو ليکوالو ګډون پکې وکړ او په پښتو او فارسي ژبو يې خپل داستانونه را ولېږل.
د افغانستان د معلوماتو مرکز اړ و چې د را رسېدلو داستانونو د څېړلو او ارزونې لپاره داوران وټاکي او له هغو کسانو سره مشوره وکړي چې په داستاني ادبياتو پوهېږي. دوی په ګډه د دې اثارو د ارزونې او شفافيت لپاره يو دقيق معيار او ميکانيزم جوړ او په دې توګه يې تر ډېره را رسېدلي داستانونه د ټاکل شويو ستندردونو له مخې وارزول.
له سخت کار او دقيقې ارزونې وروسته درې په پښتو او درې په فارسي ژبه ليکل شوي داستانونه د مقام وړ وګڼل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د داورانو نظرياتو ته په درنښت، په پام کې لري چې درې فارسي او درې پښتو اثار چاپ کړي.
درانه لوستونکي او د ماشوم د ادبياتو د برخې کارپوهان کولای شي چې د کارونو د لا ښه والي په اړه خپلې اصلاحي نيوکې او نظريات له موږ سره شريک کړي.

# د پېریانو کلی



دوه ماشومان د لويې او برجورې کلا ترڅنګ ودرېدل. مشر هلک ځمکې ته وکتل. د لارې څنګ ته په خاورو کې د مرغۍ کوچني او په خاورو سپېره بچي وزرونه رپول او په ځانګړي آواز يې له دوی نه د تېښتې وېره څرګندوله.

ماشومانو يو بل ته وکتل، پرته له دې چې څه ووايي، يوه يې لاس ور تيټ کړ، له څو ګامه تګ وروسته يې د مرغۍ بچی د يوه بوټي له بېخه را اوچت کړ. پاس د کلا په دېوال او د توت د ونو په څانګو کې دوو- درېيو مرغانو د هلکانو په دې کار احتجاج او شور جوړ کړ. هلک خپل ملګري ته وکتل او ويې ويل:

عثمانه! دا بېچاره له خپلې ځالې را لوېدلی، مور يې هم له دې وېرې چيغې وهي چې کومه پيشو پرې ورپېښه نه شي.

هلک پاس ونې ته وکتل، د پټي خواته د کاږه شوي ښاخ

پر ډډ کې یې له خټو او خځلو جوړه ځاله ولیده، خوشحاله شو او خپل ملګري ته یې په خوښۍ وکتل:

بهادره! پیدا مې کړه، له همدې ځایه را لوېدلی. دا خو ډېر لوړ ځای دی، ولې نه دی مړ شوی؟

بهادر د مرغۍ په نازکو وزرونو په مهربانۍ لاس را تېر کړ او ځواب یې ورکړ:

دومره هوا خو کولی شي. د شوتلې د پټي په نرمه پوله او چمن را لوېدلی او بیا لاري ته راوتلی. حتمي به وږی هم وي. باید ژر یې ځالې ته ور اوچت کړو، ډېر اوبال لري.

عثمان د توت د ونې پلن او ښوی ډډ له سترګو تېر کړ او بهادر ته یې وویل:

سمه ده، دا بېچاره به وږی وي. که پیشو او یا ستا د کاکا زامن پرې را پېښ شي؛ نو دا بېچاره ګی به په ډبرو ویشتلو او یا مروړلو مړ کړي.هله زه درته کېنم، ته زما په اوږو ودرېږه، ورو- ورو به اوچت شم او تر څانګې به دې ورسوم. نور خپله ورشه او دا بېچاره په خپله ځاله کې ور کېنوه.

د بهادر دا خبره خوښه شوه. عثمان د ونې ډډې ته کېناست، بهادر خپلې څپلکې وایستې او پر اوږو یې ودرېد. عثمان ورو- ورو پورته شو، نېغ ودرېد. بهادر پاس د یوې بلې څانګې بېخ را ټینګ کړ او ونې ته اوچت شو.

د عثمان اوږې سپکې شوې، یو ډول خوښي یې احساس کړه. پاس یې خپل ملګری څاره چې ځالې ته ورو- ورو ور لنډېږي؛ خو د نورو مرغانو شور ماشور چې مور او پلار یې ښکارېدل، مخ په زیاتېدو و. فکر یې کاوه چې هلکان یې

لـه ځالـې نـور بچيـان هـم اخلي؛ خـو خبر نـه وو چـې دا خواږه هلـکان لـه نـورو ماشـومانو سره يـو څـه توپـير لري. د شـيطانت لپـاره نـه، بلکـې لـه دوی سره د مرسـتې پـه هڅـه کـې دي.

ورغږ يې کړ:

بهـادره! پـام کـوه چـې پـه موټـي کـې يـې کلک ونه نيسـې او نـه يې پـه څانگو ژوبـل کړې.

بهـادر خپـل کار وکـړ. د بـري له يوه خواږه احسـاس سره يې لانـدې خپـل ملگـري تـه راوکتـل. پـه همـدې وخـت کـې يې د کلا لـه دېـوال سره د چـا لـوړ او خوبـولی غـږ واورېد:

د شـيطان اولاده! دا بيـا مـو پـه دې ټکنـده غرمـه څـه شـور ماشـور جـوړ کـړی دی؟ دا مرغان خدای وهلي هـم يوازې زموږ پـه سرونـو کـې ځالـې جـوړوي، خـوب نه شـو ورنـه کولی.





عثمان منډې کړې او شېبه پس یې د بهادرغړ هم واورېد چې د ونې له لوړې څانګې یې را ګام کړل او د خپل پلار ملک شاه میر د را رسېدو له وېرې یې په خپل ملګري پسې منډې کړې. هغه پوهېده چې پلار به یې ده ته څه ونه وايي؛ خو نه یې غوښتل چې ملګری یې خپه کړي. دا هم ورته معلومه وه چې کله یې څوک د پلار خوب وتښتوي؛ نو غوسه یې له هر وخت زیاته وي.

دواړه د کلا له کونجه پناه شول؛ خو ملک د نریو او لویو څانګو د خورو- ورو لښتو له منځه هغوی سم ونه پېژندل او بېرته وګرځېده.

دا زموږ د ګران هېواد د یوه لرې پراته ولایت د داسې کلي کیسه ده چې خلک یې په خپلو ډېرو شتو کې بیا هم غریب وو. دوی د ښارونو او ښار ته نږدې سیمو په څېر برېښنا، ښوونځی او سړک نه درلود؛ خو پاکه هوا، شنې کروندې، ښکلي غرونه او دنګې کلاګانې یې لرلې.

دا یو داسې کلی و چې د اوسېدونکو څو نسلونو یې یو له بل سره ګډه اوله خوشحالۍ ډک ژوند کړی، ډېرې ترخې او خوږې شپې یې سره تېرې کړې او ډېر سهارونه یې د کرکیلې، شپنۍ او نورو سختو کارونو په پیل سره رنګین کړي دي.

د دغه ستر کلي سلگونه اوسېدونکو، لويانو او کوچنيو کورنيو د ژوند ډېرې لوړې ژورې، سړې تودې، خوښی غمونه، سختی او سوکالی يو د بل ترڅنگ تېرې کړې او تل يې د يوې کورنی په څېر په خپلو کې د خپلوی او خوښی احساس سره شريک کړی دی.

د دې کلي پخوانی نوم به خدای خبر څه و؛ خو له تېرې څه کمې يوې پېړی راهيسې د خلکو ترمنځ د پېريانو په کلي مشهور و. شاوخوا ترې ستر او ځنگلي غرونه ولاړ وو او نږدې سل متره وړاندې ترې يو کوچنی سيند بهېده چې د کليوالو کروندې هم د همدې سيند شاوخوا پرتې وې. ځينې ځمکې خو يې د غرونو له چينو او يوه پخواني کارېز هم خړوبېدلې.

د سيمې نور کلي د پېريانو له کلي نه لرې پراته وو. د دوی ترمنځ د تگ راتگ لارې د اوږده سيند او لويو غرونو په واسطه سره جلا شوې وې چې د ژمي په راتگ او واورو په ډېرېدو سره به يې اړيکه د نږدې دوو نيمو مياشتو لپاره پرې شوې وه.

د پېريانو کلي د زړو او اوسنيو دنگو کلاگانو برجونه به له ډېر لرې هم ښکارېدل چې د شپې د سپوږمۍ په رڼا کې به د کلاگانو د برجونو، گڼو ونو او دنگو غرونو سيورو عجيبه؛ خو وېرووونکې ننداره جوړه کړې وه. داسې به ښکارېده لکه د بلاگانو څېرې چې روانې وي.

د ملک شاه مير کلا د کلي په شمالي څنډه کې له غره سره جوخته وه چې مخ ته يې د توتو او چنارونو ځنگلي باغ

او تر سیند پورې غځېدلې کرونده په دې پورې اړونده وه. د دې بڼ په منځ کې د ملک د ناستو پاستو او جرګو ځای و چې ډېرې کمې ورځې به د خلکو له ګڼه ګوڼې خالي و.

د ملک شاه میر حیثیت په کلي کې بیخي د پاچا په څېر و. کلیوال مجبور وو چې د خپل هر نوي کار او تصمیم پرمهال له هغه سره مشوره وکړي، د هغه خبره واوري، په ښه او بده کې ملک ته مراجعه وکړي او له بلې خوا د ملک پرېکړې هم په ښه ډول عملي کړي. خو داسې کسان هم وو چې د ملک له امرونو او فرمانونو دې سرغړونه وکړي. په دې ډله کې د ده دوه ورونه خیال میر او بخت میر هم وو چې د ځمکې په سر له لانجې وروسته سره بېل شوي وو او یو له بل سره یې خبرې نه کولې.

د پاخه عمر لرونکي ملک شاه میر د خپلو پراخه ځمکو او باغونو د پېر او پلور ترڅنګ د لرګیو او (هنجې) وهلو سوداګري هم کوله. له درېیو مېرمنو یې ۷ زامن، څلور لوڼې او ګڼ لمسیان درلودل. درېیم واده یې ۱۲ کاله وړاندې له یوې ۲۰ کلنې نجلۍ زرپاڼې سره کړی و.

زرپاڼه د ملک شاه میر د یوه تجارتي شریک لور او د کوم بل ولایت اوسېدونکې وه. د کلي ټولو نجونو او مېرمنو یې په ښکلا اقرار کړی و؛ خو د ژوند او نصیب کیسه یې هم عجیبه وه. چا به په دې بدبخته بلله چې له واده یوه میاشت وروسته یې لومړی خاوند چا وویشت او کونډه شوه، بیا یې پلار ملک شاه میر ته په نکاح کړه چې له داسې یوه شتمن سره یې د ژوند شریکول د دوی په نظر د هغې نېکمرغي وه.

د ملک دربیم واده په کلي کې په پوره درز او شور سره ترسره شو. زرپاڼې په لومړیو کې داسې احساسوله چې له ونو او غرونو په جوړ زندان کې زنداني ده. ډېرې شپې یې په ژړا تېرې کړې؛ خو مجبوري وه. یو کال وروسته یې چې زوی بهادر نړۍ ته سترګې وغړولې؛ نو له غمونو او اندېښنو یې یو څه اوړې سپکې شوې. د ځان لپاره یې د بوختیا یو ښه ملګری پیدا کړ. د خاوند وضعیت یې هم ډېر ښه شو، په دویم کال خدای پاک لور ورکړه چې ملک شاه میر ورباندې غوټۍ نوم کېښود.

له دې وروسته یې بیا اولاد ونه شو او نه یې هم د خپل پلار کورنۍ ته د تګ راتګ ډېره اجازه وه. خو په دې کې هېڅ شک نه وو چې ملک شاه مېر له خپلې ځوانې او وروستۍ مېرمنې زرپاڼې او د هغې له دوو اولادونو بهادر او غوټۍ سره تر نورو هغو ډېره مینه درلوده او هره خبره یې د توقع خلاف منله.

⁂

غرمه وه، بهادر او غوټۍ د باغ په یوه څنډه کې د کلي له ماشومانو سره یو ځای لوبې کولې. د باغ په څنډه او د غره په لمن کې په واښو مړو وزو او پسونو په خپلو کې مستۍ کولې. یوې ښکرورې وزې د بلې وزې بچی په ښکرو وواهه او لاندې ژور لښتي ته ولوېد.

غوټۍ چې د دې لوبې ننداره کوله، په منډه ورغله، ویې لیدل چې سېرلکی د تازه پاکې شوې ویالې په اوبو کې کته او پورته منډې وهي او بغېږي. غوټۍ وارخطا شوه،

غوښتل یې لاس ور ښکته کړي؛ خو وویرېده چې خپله ور ونه لوېږي. په منډه د نورو نجونو او هلکانو خواته راغله، بهادر د ونې په څانګه کې په اچولي ټال کې زانګل او نوبت ته ولاړو هلکانو ته یې کتل. غوټۍ ناڅاپه په خپل ټول زور سره زانګو ودروله او خپل ورور ته یې په وارخطا لهجه وویل:

لالا! لالا! هلته د مورجانې ښکروري وزې د عثمان دوی د وزې بچی وواهه او لښتي ته ولوېده، اوس به مړ شوی وي.

بهادر یوڅل خپلې خور او بیا ملګرو ته وکتل، په کړس کړس یې وخندل. نور هلکان هم په خندا شول او ټولو په غوټۍ کې چې سخته وېرېدلې وه، سترګې وګنډلې. غوټۍ هم لومړی بهادر او بیا خپلو ملګرو نجونو ته بد بد وکتل، پړینګ په ژړا شوه او د کلا په لور یې منډه کړه.

هلکان بېرته په لوبو بوخت شول، هېڅوک هم لښتي ته د لوېدلي سېرلکي کیسه کې نه شول. ټولو په بڼ کې نښه ویشته او په زانګو کې یې ټالونه وهل. د غوټۍ د ژړا غږ هم غلی شو.

شېبه پس د بڼ په سر کې غوټۍ را معلومه شوه چې خپل پلار ملک شاه میر له لاسه نیولې وه. لومړی بهادر او بیا د نورو ماشومانو سترګې پرې ولګېدلې. ټول وچ کلک او حیران ودرېدل، ته به وایې چې د مرغانو په سیل کومه باښه ورګډه شوې وي.

هېچا هم له وېرې د تېښتې هڅه نه کوله. د ملک شاه مېر سترګې له قهر او غوسې ډکې وې، په لوړغږ یې وویل:

زما لور مو وهلې ده؟ هغه هلک دې خپله ځان وښیي

چې دا کار یې کړی، که نه په خپل آس پورې یې ترږم او د هغه غرونو په تودو ډبرو یې اچوم.

هلکان زبون وهلي شول. یو بل ته یې وکتل؛ خو هېچا هم غږ نه کاوه. ملک یو ځل بیا خپله خبره تکرار کړه:

دېوال ته خبرې کوم که تاسې ته؟

کوم شیطان دا کار کړی دی، تاسې نه پوهېږئ چې دا د چا لور ده؟

غوټۍ غوښتل څه ووایي؛ خو یو ۹ کلن هلک را وړاندې شو او په تته ژبه یې ملک شاه میر ته وویل:

ملک صایب! هېچا هم نه ده وهلې. مور خو یوازې وخندل او زمور په خندا هغه په ژړا شوه او د کلا خواته یې منډه کړه.

یو بل هلک چې خرمایي سترګې او ببر وېښتان یې لرل او جامې یې په خاورو چټلې وې، د وړاندې لښتي خواته اشاره وکړه:

ملک کاکا! عثمان رښتیا وایي. مور خو په هغه لښتي کې لوېدلي سېرلي ته وخندل، لار ترېنه ورکه وه او بغارې یې وهلې...

غوټۍ خپل لاس موټی کړ، زړه یې و چې عثمان په سوک ووهي؛ خو نور هلکان هم را وړاندې شول، د ټولو په څېرو کې زړورتیا او په شونډو یو ځل بیا موسکاوې غوړېدلې وې.

ملک د وېرېدلې غوټۍ لاس پرېښود او په غوسه شو:

د شیطان اولاده! ګډې وډې خبرې کوی. دا ځل مو لیاز(لحاظ) که بیا مو داسې کوم کار کړی و، په دې باغ

کـې بـه قـدم هـم کېنـږدی. د خپلې زانگـو په دې پړي بـه مو را وځړوم، ځـئ لـه دې ځايـه ورک شـئ!

بهـادر پـه شرمندوکـې انـداز خپلـو ملگـرو او بيـا غوسـه ناک پـلار تـه وکتـل، ځـای پـر ځـای يـوازې پاتـې شـو. وړانـدې يـې بيـا د سـېرلي غـږ واورېـد. لښـتې تـه لوېـدلی سـېرلی را ختلی و، ځـان يـې وڅنډلـو او هـره خـوا يـې لـه وژغونو(وېښـتو) د اوبو ځاځکـې بـاد شـول. په مور پسـې يـې بغـارې پيل کـړې، بهادر غوښـتل ورشي او د غـره لمنـې تـه يـې خپلـې مـور تـه ورسـوي او هغـه بلـه ښـکروره وزه څـو لښـتې ووهـي؛ خو سـېرلی لوند و، زړه يـې ونـه کـړ. دغـره پـه لمن کـې يـوې وزې هـم د خپل زوی پـه لټـه سرگردانـه منـډې وهلـې او نه پوهېـده چې غږ لـه کومه ځايـه راځـي.

بهـادر نـور هلـکان پرېښـودل، په پلار پسـې يـې منډې کړې او لـه ور رسـېدو سره يـې د غوټـې غـوږ ته خوله ورنـږدې کړه:

اې خورجانې! هلته گوره.

تورکـی سـېرلی د ونـې څنـگ تـه يـوازې او وېرېـدلی ولاړ و، اوس يـې پـه دوی پسـې سـترگې را ختلـې وې.

ملک شاه مير شا ته ر ا وکتل او ويې ويل:

بهـادر خانـه زويـه! کـه تـه يـې راتـه وهلـی وی، بيا مـې نو دا لوچـکان داسـې نه پرېښـودل...

بهادر وپوښتل:

-ولې پلاره! زه او خور مې څه فرق لرو؟

-ډېـر فـرق، د ځمکې او اسـمان. ته هلک يـې او هغه نجلۍ. ته چې لوی شـې د ملک شـاه مير شـان او شـمله به وې او ...

بهادر یې په خبره کې ور ولوېد:

- خورجانه مې چې لویه شي څه به وي؟

ملک پښه نیولی شو او ویې ویل:

کم عقله، نجلۍ د پردي کور ډېوه ده. هلک هلک وي، نجلۍ نجلۍ. خو چې لوی شې بیا د خپل پلار په دې خبرو پوهېږې، اوس کوچنی او کم عقل یې.

بهادر له ځان سره د بل کور ډېوه خبره دوه درې ځله تکرار کړه؛ خو په معنی یې هېڅ پوه نه شو. په خپل پلار او خور پسې د کلا خواته په سستو قدمونو روان شو.

د لارې څنګ ته د ولاړو اوبو په ډنډ کې یوه‌هیلۍ غلې ناسته وه او سر یې په خپله ډډې کې منډلی و. بهادر یوه



ډېره را واخیسته او ډنډ ته یې ور گوزار کړه. هیلۍ لکه چې ویده وه، له خوبه را ویښه شوه. له وزرونو یې درې کوچنۍ بچیان راووتل. هیلۍ خپله غوسه په کاغ کاغ څرګنده کړه. هلته په ډنډ کې یو پر بل پسې منظمې کرۍ جوړې شوې. بهادر ته دې ننداري خوند ورکړ او ډېره شېبه ورته ولاړ و. په کړیو کې یې د خپلې څېرې تصویر ته هم کتل چې جوړېده او ورانېده.

د مازدیگر سیوري په کږېدو وو. بهادر له خپل ملگري عثمان سره د نورو ورځو په څېر له کلي وړاندې د غره په لمن کې د یوه کمره په سر ناست و. د رمې پسونو او وزو ځېږې مړې کړې وې؛ خو لا یې هم په خوند سره د غرنیو شنو ترخو او نورو بوټو نازکې څوکې او پاڼې خوړلې.

عثمان نهه کلن و. پلار یې نېک محمد د کلي یوازینی پوخ عمره سړی و چې څه ناڅه لیک لوستی یې کولی شو. په ځوانۍ کې یې له واده وړاندې د عمر یوه برخه په ښار کې تېره کړې وه او له برکته یې لیک لوست یو څه زده کړی و. خو کله یې چې په کلي کې واده وکړ؛ نو ډېرته د کلي او کرکیلې شو. ډېر شیان یې بېرته له یاده وتلي وو؛ خو عثمان به تل ترې د ښار کیسې غوښتې.

ده به هره نوې خبره له خپلو ملگرو بهادر، خالد او سپین گل سره شریکوله او بیا به یې ساعتونه پرې خبرې روانې وې. تر ټولو ښه وخت یې غره ته په گډه د رمې بېول او کله کله په کروندو او باغونو کې گرځېدل او د مرغانو د

ځالـو موندل وو.

عثـمان پـه يـوه لـوړ كمـره ودرېـد، غوښـتل يـې خپلـه رمه له سـترګو تېـره كـړي، وړانـدې يـو شـوخ ښـكرور وزګـوړی د اوچت كمـره پـه سر ولاړ و، د لمـر خاتـه خواتـه يـې رڼې سـترګې او ترهېدلـې سـترګې نيولـې وې.

پـه ليـدو يـې عثمان هم يـو څه حيران شـو، بېرتـه راغی او د بهـادر په اوږه يې لاس كېښـود.

اې هلتـه ګـوره! هغه ستاسـې توركی وزګـوړی څنګه وارخطا ولاړ دی؟ خدايـزده چـې څـه شي تـه يـې سـترګې نيولـې، هېڅ واښـه نه خوري.

بهـادر پاڅېـده، وړانـدې يـې وكتـل، لمـر لـه مخامخ غـره په پنـاه كېـدو و. د زاړه كلي د ورانـو او پخوانيـو كلاګانـو، مخامـخ غرونـو، ونـو او هديـرې د جنـډو او بيراغونو سـيوري ټـول د دوی په خـوا رامـات وو.

د ده څېره هم جدي شوه او عثمان ته يې وكتل:

- هو، هو پوی(پوه) شوم، پوی شوم...

- عثمان يې خولې ته وكتل؟

- په څه پوی شوې؟

پـه دې چې زموږ ښـكرور سـېرلكی ولې داسـې په رڼو سترګو او حـيران حـيران هغـه خواتـه ګـوري. پلار مـې وايي چـې زموږ پـه كلي كـې لـه مـوږ سره پېريـان هـم ګـډ ژونـد كوي؛ خـو موږ يـې نـه وينـو، يـوازې وزې، پسـونه او سـپيان يې ليـدلی شي. د پېريانـو پـه منځ كې شـيطانان هـم ګرځي.

دا پـه كلي كې چې د شـپې سـپيان غاپـي، دا ټول د پېريانو

او شيطانانو په څېرو يا د نورو بلاوو په ارواوو پسې منډې وهي. که سپيان ونه ساتو، نو هغوی به زموږ کورونو ته هم را ننوځي او غلاوې به کوي. که غلا ونه کړي، نو برکتونه له منځه وړي.

ماته مې اناجانې هم ويلي وو چې په دې غرونو، خوړونو، د زاړه کلي کنډوالو او لويو ونو کې هم د ماښام په تيارو سره پېريان لوبې کوي او د خپل پاچا له ډاره سخت سخت کارونه کوي.

- پاچا يې څوک دی؟

- د دوی پاچا دېو نومېږي.

- کور يې چېرته دی؟

نه پوهېږم؛ خو پلار مې راته ويل چې د زاړه کلي په کنډوالو، هديره او ډېرانونو کې يې کورونه جوړ کړي دي. پاچا به يې حتمي د کوه قاف په غرونو کې وي. د دې ټولو غرونو سر له کوه قاف سره نښتی دی.

دواړو که څه هم پخوا داسې ډېرې خبرې کړې وې؛ خو عثمان د بهادر له خبرو وروسته په وچ ستوني لاړې تېرې کړې. يو ډول وېره يې حس کوله؛ خو تر ډېره غلی و. يوه ډبره يې را اوچته کړه، د وزګوړي خواته يې ور ګوزار کړه. وزګوړي لاندې ګام کړ. په رمه پسې يې ور منډه کړه، عثمان بېرته بهادر ته وکتل:

- اناجانې مې هم تل راته همدا خبره کوله چې ته او خور دې پس له ماښامه بهر ته مه وځئ. په ډېرانونو کې پل مه ږدئ، تر ناوو او شنو ونو لاندې مه ګرځئ. تل بسم الله وايئ

چې کوم پېرى مو تر پښه لاندې نه شي. بيا مو په سر کښني او حتمي مو له ځان سره د زاړه کلي کنډوالو ته وړي.

بهادر يې په خبرو کې ور ولوېده:

- نه، زما پلار خو وايي چې پېريان ډېر لوى لوى دي. د توت د ونو په څېر اوچت دي. نو څنګه به زموږ تر پښو لاندې شي؟

عثمان يوه شېبه غلى و، بيا يې ځواب ورکړ:

نه پوهېږم، هغوى به هم لوى او واړه لري، واړه بچيان به يې زموږ په څېر وي. زما مور چې تېر کال پېريانو نيولې وه، بيا يې د پير بابا زيارت ته بوتله، هلته يې ورته بندونه او تاويزونه(تعذيزونه) وکړل. بيا يې پېريانو اقرار وکړ چې دې ښځې د شپې له بامه لاندې په موږ اوبه او د تناره تودې ايرې را تويې کړې دي، موږ يې نه خوشي کوو. په کور کې مې پلار او انا شنې لښتې را واخيستې، مور مې يې ښه ووهله، نوره غلې شوه او پېريان يې ترې پاڅول.

بهادر وپوښتل:

- پېريان څنګه اقرار کوي؟

- څوک چې ونيسي، د هغه په ژبه خبرې کوي.

- زموږ د کلــــي ملاصاحب هم د پېريانو په ژبه پوهېږي. بابا مې وايي چې هغه پېريان په بندو کړي دي. په جمعه کې يو ځل تورو کمرونو او د زاړه کلي کلاګانو ته ځي. هلته خپل ټول پېريان را حاضروي او که يې سرکشي کړې وي؛ نو جزا ورکوي.

دوى په همدې خبرو کې وو چې يو غږ وشو. دواړه

ماشومان وارخطا او ترهېدلي ودرېدل. پاس يې وکتل يوه لويه او ګرده ډبره په بوټو کې د دوی په خوا را رغړېده او ها خواته يوې مېږې منډې وهلې.

رمه هم لاندې خوړ ته ښکته شوې وه. په روانو اوبو يې خولې ښخې کړې وې. عثمان او بهادر هم ورپسې روان شول. نن د دواړو په ذهنونو کې د پېريانو او بلاګانو ډاروونکو څېرو او وهمونو اتڼ اچولی و.

عثمان په تګ کې د بهادر په اوږه لاس کېښود او ورته ويې ويل:

له تيارې مخکې بايد رمه کور ته ورسوو. نور د پېريانو خبرې مه کوه چې زه وېرېږم. د جمعې په ورځ ملا صاحب ته د لمانځه تېرولو لپاره ورځو. هغه خو پېريان تړلی شي، ورته وبه وايو چې پېريان زموږ او زموږ د رمې له وېرولو منعه کړي.

بهادر د سر په خوځولو د هغه خبره تاييد کړه. خپل ډانګ يې په اوږه کړ او دواړو اوږه په اوږه په خپله رمه پسې منډې کړې.

⁂

د ماښام له تيارو سره د ملک شاه مير د حجرې په پراخه برنډه د هغه د زامنو، لمسيانو او ځينو کليوالو ناسته او بنډار د هغوی لپاره چې ملک ته به ملامت نه وو، ښکلې تفريح او د هغوی لپاره چې د ملک د خوښې کوم خلاف کار به يې کړی و، له يوه عذاب زيات و. خو د هغه دوو ورونو او زامنو يې له خپګان او بېلتون وروسته هېڅکله دلته ناسته نه وه کړې او د ځمکو په سر د دښمنيو يوه اوچت دېوال له کلونو

راهیسـې سره بېـل کړي وو.
پـه دې ماښـام هـم ملک شـاه مـیر د خپلې حجـرې د پراخه برنـډې پـه بـر سر کـې چـې تهوله پـه لمڅي فـرش وه، ناسـت و. سره بالښـت تـه یـې ډډه وهلـې وه. شـاوخوا یـې هـم د کورنـۍ نارینـه غـړي او نـږدې کلیـوال مـشران کېناسـتل. کوچنیـو لمسـیانو او زامنـو یـې یـو لـه بـل سره خـبرې او لوبـې کولـې. زامـن یـې هـم لـه کارونو او کرکیلې را سـتنېدل او پـلار ته یې د خپلـو کړنـو پـه اړه یـو څـه معلومـات ورکول.
ملک شېبه وروسته په امرانه لهجه غږ کړ:
- هلکانو! دا بهادر جان زوی مې ولې نه ښکاري؟
زامنـو یـې یـو بـل ته په داسـې انـداز سـترګې واړولـې چـې د کینې او ناخوښـۍ نښـې پکې له ورایه ښـکارېدې. په دوی بده لګېـده چـې یـو کوچنـی مـیرنی ورور یـې پـه پـلار د ګنـو زامنـو او لمسـیانو ترمنـځ ولـې دومـره ګـران شي، ولـې تـل د غوټـۍ او بهـادر پوښـتنه کوي.
یوه بل زوی یې جنت میر ورغږ کړ:
-لالا! نـن یـې د رمـې نوبـت و، لـه غـره ناوختـه راغـی. ټوله ورځ ګرځېـدلی، سـتړی بـه وي...
ملک یې په خبرو کې ور ولوېده:
- ورشـئ، رایـې ولـئ چـې له مـا سره یوځـای ډوډۍ وخوري، هلئ...
د ملـک بـل زوی لـس کلـن سـپین ګل او یـوه بلـه نجلـۍ پاڅېـدل او د کلا د دروازې پـه لـور یـې منـډه کـړه.
پـه همـدې شـېبه کـې د اسـونو د پښـو غـږ شـو. وړانـدې

ترږمې وه. دوه اسونه تر ونو لاندې ودرېدل. دوه په ګردونو لړلي کسان برنډې ته را وختل، يوه يې له اوږې ټوپک لرې کړ، دېوالـه تـه يې ودراوه. سلام يې وکړ. ملک په ناستې د ستړي مه شي لاس ورکړ او دواړه ورته مخامخ کېناستل.

يوه يې له ځنډه پرته خبرې پيل کړې:

- ملک صاحب! بس ستا د جرګې په پرېکړه مو جوړه وکړه. دواړه خواوې يې منو، خو زموږ د خوا يو دوه کوچنـي شرطونه هم بايد ومنل شي.

ملک شاه مير په زوره وخندل او راغلو کسانو ته يې وکتل:

- بازيه او شېرو! ما خو درته په هغه ورځ وويل چې دا زموږ د پلار او نيکونو تيره او قانون دی. څوک يې نه شي ماتولی. د وينې د پور او قتل مسئلې څه اسانه نه وي. خو اوس مې حجرې ته راغلي ياست، شرط مو څه دی؟

شېرګل خپل لاس د مننې په دود پر سينه کېښود او بازمحمد ته يې وکتل. په سترګو کې يې پوه کړ چې خبره ورته وکړي.

باز محمد پلتی ووهله او ملک ته په خبرو شو:

جرګې ويلي چې موږ بايد د دې کال د کوکنارو د حاصلاتو نيمه برخه ورکړو؛ خو ته پوهېږې چې سږ کال حاصلات ښه نه دي، فصلونه ږلی وهلي. دا که درېيمه برخه شي، بله دا چې نجلۍ له نهه- لسو کلونو زيات عمر نه لري. بايد يو دوه کاله ورته وګوري چې يو څه لويه شي، بيا دوی پوهېږي او کار يې.

دوی لا خبرې کولې چې بهادر هم غلی راغی او د خپل

پلار ځنګ ته کېناست. ملک شاه میر په تندي ښکل کړ او بیا یې باز محمد ته وکتل:

- د پلار- نیکه په دود دستور کې به ګوتې نه وهو. د خیر په کار کې بیړه ښه وي. ستاسې د کوکنارو معامله خو هسې هم سږ کال له ما سره ده او ډېرې پیسې مې بندې کړې دي. دا اوله خبره به مو پرې ومنم؛ خو دویمه کې څه نه شم کولی.

شېرګل یې په خبره کې ور ولوېد:

- خدای پاک دې خیر در کړي ملک صاحب؛ خو په دویمه غوښتنه کې هم زموږ لحاظ وکړه. نجلۍ وړه ده، کاش چې کومه بله لویه لسمۍ یې درلودی، همدا سبا به مو ورسپارلې وه، خو نشته.

ملک جدي شو:

- ګوره! د خون او وینې د پور مسئله ده، د دین محمد د مرګ ویر لا هم تازه دی. په توده کې سره ښه نه وي. د هغی ترڅلوېښتۍ پورې باید دا کار وشي. په دې موضوع کې مو زه طرفداري نه شم کولی. نجلۍ هسې هم پردۍ وي، څه نن او څه سبا. یوه ورځ به بل کور ته ځي. اوس هسې هم د دوی نګور شوه، څه هلته څه دلته. هغه د دوی د کور خبره ده چې هر چاته یې په نکاح کوي.

د ملک په دې خبره دواړه غلي شول. تر یوې شېبې چوپتیا خپره وه. یوه ځوانکي د چایو پتنوس راووړ. وروسته بیا دواړه راغلي کسان پاڅېدل او په تیاره کې ورک شول.

ملک شاه میر وخندل. شاوخوا ناست خلک یې له نظره

تېر کړل او تر ژبه لاندې يې وويل:
- هم يې قتل کړی او هم يې زړه دی چې مرغات ورسره وشي. کور يې وران کړې، عجيبه زمانه شوه.
بېرته يې خپل يوه زوی ته وکتل:
- جنت ميره کارونه څنګه وو، کروندو ته تللی وې؟
يو توركی ځوان چې بالښت ته يې ډډه وهلې وه، را نېغ شو:
- هو لالا! د کوکنارو د پټيو د اوبو نوبت و. تر غرمې پورې مې تول اوبه کړل؛ خو دغره د لمنې پټی يې ډېر خراب کړی و؟
ملک وارخطا شو:
چا خراب کړی و؟
د کوز کلي رمه راختلې وه. شپانه يې په لوبو بوخت وو. د دوی دې کور وران شي تې خوري ماشوم ته يې لويه رمه په لاس ورکړې وي.
- بيا دې څه ورسره وکړل؟
يوازې يو ماشوم لاس ته راغی، ښه فرش مې ورکړ. دوه درې لښتې مې پرې ماتې کړې، نور رانه وتښتېدل.
ملک غوسه شو:
- ښه دې وکړل، د مېږو او وزو پښې به دې ورته ماتې کړې وې. دا خو اموخته کېږي، سبا بيا راځي.
بهادر يې په خبرو کې ور ولوېده:
- لالا! هغه ماشوم تا وهلی و؟
جنت مير په غوسه ور وکتل:

- هو، تا هم ولیده؟

نـه، مـا او عثـمان یـې پـه غـره کـې چیغـې واورېدې. مـا ویل کـه پېریانـو او دېوانو نیـولی دی.

ټولـو ناسـتو پـه زوره وخنـدل. ملـک شـاه مـیر هم لومړی په شـونډو کـې موسـک شـو؛ خو څېـره یې بېرتـه بدله شـوه، بهادر یـې پـه تنـدي ښـکل کـړ او پـه ټیټ غږ یـې ورتـه وویل:

- زویـه! مـشران وایـي چـې چېرتـه ډب وي، هلتـه ادب وي. د دې بـې سره ماشـومانو ننګـه مـه کوه، لالا دې ښـه کار کړی. زمـوږ پـه کرونـدو دې زړه نـه بدېږي؟ بلـه دا چـې پېریـان او دېـوان د ورځـې څـه کـوي چـې تـه تـرې وېرېـدلی یـې.

بهـادر غوښـتل چـې د کوکنـارو د کرونـدو پـه اړه څـه ووایي؛ خـو زړه نـا زړه شـو، غـلی کېناسـت. پـلار یـې پـه اوږه لاس ورکېښـود او ورتـه ویـې ویـل:

- پوه شوې زویه!

- هو؛ خو تا راته ویل.

- څه مې ویل؟

- چـې د خپلـو ملګـرو سره د زاړه کلي د کنډوالـو او هدیـرې خواتـه مـه ځـه، هلتـه پېریان او دېـوان وي. هغوی ماشـومان له ځـان سره لـه مور او پلار نه تښـتوي او بیا سـخت سـخت کارونه پـرې کوي.

ملـک شـاه مـیر د ملامتـیـا احسـاس وکـړ؛ خـو غوښـتل یـې خپلـه کـړې خـبره او ملامتـي پـه نـورو خـبرو کـې پټـه کـړي.

- زویـه! تـه هم پـه ډېرو خبرو پسـې ګرځـې، دا بـلاوې یوازې د شـپې ګرځـي؛ خـو د ورځـې هېڅ خـبره نه وي.

بهادر وپوښتل:

- بيا نو ولې زموږ کلي ته د پېريانو کلى وايي؟

ملک وخندل:

- گوره په پخوا زمانو کې چې انسانان ډېر کم وو، دا ځمکې پېريانو، دېوانو او نورو بلاوو ته ورپاتې وې. دلته يې ژوند درلود. بيا چې ډېر پخوا زما نيکه او څو نور کسان دلته راغلل؛ نو جنگونه يې وکړل. همغه وو چې دا ځمکې يې ونيولې او تر ننه يې نوم په همدې ډول پاتې شو.

بهادر بيا وپوښتل:

- پېريان يې مړه کړل؟

- ځينې يې وشړل او ځينې يې مړه کړل. ډېر وخت يې



دښمني وه، تر دې چې زموږ نسل و نسب ډېر شو او هغوی مو پسې واخيستل.

- مړي يې چېرته دي؟

پلار يې وخندل:

- همدا په غونډيو کې چې زاړه زيارتونه او د چهل گزي بابا په نوم اوږده قبرونه دي، د هغوی د مشرانو به وي. نور خو زه هم نه پوهېږم. ستا بابا دې خدای غرق رحمت کړي، ماته به يې همدا کيسه کوله.

دا ځل هېچا هم ونه خندل. نور ماشومان هم يو د بل په غوږ کې وپسېدل. په همدې وخت کې د لاس مينځلو او ډوډۍ راوړلو غږ شو. بهادر پاس په شنه اسمان او له برنډې لاندې په تورو سيورو کې سترگې گنډلې وې.

بهادر د شپې ناوخته د خپلې مور کوټې ته ستون شو. خور يې غوټۍ هم په کونج کې غلې ناسته وه او له پيشو سره يې لوبې کولې. د ده په ور ننوتلو خوشحاله شوه، ورپاڅېده خپلې مور ته يې وويل:

- ادې! هغه دی راغی. ما درته ويل چې هلته نه ويده کېږي.

زرپانې له اوږدو چرتونو سر راپورته کړ. بهادر يې خپل څنگ ته کېناوه او په تندي يې ښکل کړ.

- چېرته وې زويه؟

بهادر پيشو په غېږ کې ټينگه کړه او مور ته يې ځواب ورکړ:

- هلته د حجرې په برنډه ناست وم. خو ستا سترګې ولې سرې دي؟

زرپاڼې لومړی غوټۍ ته وکتل، د ټیکري پیڅکه یې په تندي راتېره کړه او ځواب یې ورکړ:

- هسې په سر مې درد و، لوند مې کړ. اوس بېخي ښه دی.

بهادر د پیشو په سر لاس را تېر کړ، پښې یې وغځولې او ویې ویل:

- د سپین ګل مور خو به بیا درسره جنګ نه وي کړی؟

د زرپاڼې په شونډو مړاوې موسکا وغوړېده ویې ویل:

- نه زویه! هېڅ خبره نه ده. درته ومې ویل چې سر درد یم. اوس راته ووایه چې حجره کې څه خبرې وې چې تر ناوخته پاتې شوې؟

بهادرغوټۍ ته وکتل او خپلې بسترې ته یې اشاره وکړه چې د خوب ځای ورته تیار کړي. بیا یې مور ته وویل:

- دوه نفره راغلي وو، نه مې پېژندل. د کوکنارو او یوې نجلۍ په اړه یې خبرې کولې.

زرپاڼه د خپل زوی خبرو ته ځیر شوه او ترې ویې پوښتل:

د نجلۍ په اړه! پلار خو به دې بیا کومه مامله(معامله) نه وي روانه کړې، څه یې ویل؟

- هغه خلکو ورته وویل چې زموږ نجلۍ لا وړه ده، یو دوه کاله باید ورته صبر وکړئ، بیا یې خپل کور ته بوځئ. خو ادې زه پوه نه شوم، دوی ولې له وړو نجونو سره داسې کوي؟ دوی د بدو په اړه هم خبرې کولې، بد څنګه وي؟



مور یې په خبره پوه شوه او ورته ویې ویل:

- هو زویه! پوه شوم، د تېرې هفتې د جرګې خبره یې کړې ده. همدا ستاسې د پلار دوی رواج دی چې د خپلو بدو کړو په بدل کې پېغلې لورګانې او که پېغلې نه وي، نو ماشومې نجونې ورکوي. د دې لپاره چې ترمنځ یې دښمني ختمه شي او خپلوي جوړه کړي.

غوټۍ چې د دوی خبرو ته غوږ وه، له خپلې مور یې وپوښتل:

- ادې! ولې هلکان نه ورکوي؟ نجونو خو څه بد کار نه دی کړی. ملا صاحب خو ویل چې ماشومان له ګناهونو پاک وي. تاهم ویل چې واړه ماشومان د ملایکو غوندې بې ازاره او پاک دي.

زرپاڼه په ډېر زور موسکۍ شوه او د غوټۍ په جړو وېښتو یې لاس را تېر کړ:

- نه لورې! دا خو دلته یو رواج دی. وایي هلک او نجلۍ نه دي برابر. هلک د خپل پلار کور ابادوي او نجلۍ هسې هم یوه ورځ پردي کور ته ځي. څه په بدو کې او څه په واده ورکړې.

بهادر په سوچونو کې ډوب شو او شېبه پس یې بیا له

خپلې مور وپوښتل:
ادې! په بدو کې د ورکړې نجلۍ واده او سیلونه نه وي؟
د بهادر په دې پوښتنه زرپاڼه حیرانه شوه. نه پوهېده څنګه ځواب ورکړي. خو د هغه د تېر وېستنې لپاره یې وویل:
- کېږي زویه؛ خو د خسر په کور کې یې. د پلار له کوره یې چوپه خوله بیایي او هلته یې ناوې کوي. خپل ټول خپلوان ورته را غواړي، ساز او سیلونه جوړوي.
زرپاڼه غلې شوه، خو بهادر بیا وپوښتل:
- ادې! تا ویل دا زمونږ د پلار دوی رواج دی، نور خلک دا کار نه کوي. زما ماما دوی هم داسې رواجونه لرل؟
زرپاڼې ځواب ورکړ:
- زویه! ستا ماماګان خو د دې ځای نه دي، د بل ځای دي. زما وړکتوب خو هلته تېر شوی. داسې کومه پېښه مې نه ده لیدلې. خو بابا به دې تل وهلم. ویل به یې چې ته د بل کور رڼا یې. ماته په درد نه خوري. درې واړه ماماګان به یې دې ښه نازول. ویل دوی به زما شان او شوکت ساتي. همغه وو چې په کم عمر کې یې واده کړم. بیا دا هم چا راته وویل چې ستا خسرخېل هم له چا سره دښمني لري. تر اوسه یې چا ترمنځ جوړه هم نه ده کړې. لومړی مې څه نه ویل؛ خو د دښمنۍ په اورېدو مې ټوله شپه ژړل. پلار او وروڼو به هم وهلم چې ولې ژاړې، مه مو شرموه.
څو میاشتې پس یې واده کړم. سختې ورځې رابانديې تېرې شوه. یوه میاشت پس هغه څه وشول چې ما یې له

وېرې هره شپه اوښکې تویولې.

بهادر وپوښتل:

- څه وشول؟

- همغه سړی چې زه یې ورکړې وم، چا مړ کړ. یو ماښام یې پلار ته چا احوال ورکړ چې د زوی مړی دې د سیند پر غاړه پروت دی. چا ویشتلی او څوک ورسره نشته. ټول کور ژړاګانو په سر اخیستی و؛ خو له پېښې تېښته نه وي.

زرپاڼه یوه شېبه غلې وه. د ټیکري پیڅکه یې په سترګو را تېره کړه او کیسې ته یې دوام ورکړ:

- بده ورځ وه. هر څه خدای تېر کړل. څلور پنځه میاشتې مې په غم او وير کې تېرې کړې. زما د پلار او هغوی ترمنځ جنجالونه روان وو. پینځمه میاشتې یې زه له دوی نه خلاصه کړم. خسر مې کوم بل زوی او ځوان ورور نه درلود. پلار مې په دې ورته غوسه و چې ستاسې د دښمنۍ له امله زموږ لور کونډه شوه.

یوه میاشت په کور کې وم، کومه شپه ستاسې پلار زموږ کور ته راغی. زما له پلار سره یې له پخوا نه ملګري وه. تر نیمو شپو یې خبرې کولې. سهار یې ور وغوښتم او راته ویې ویل چې ته ځوانه او کونډه یې. خسرخېل دې راسره ضد لري. غواړم یوه شتمن کس ته دې ورکړم چې د ډېر لرې ځای دی. ته به هلته خوندي وې او ارام ژوند به پیل کړې.

زما انکار ګټه ونه کړه. دوې شپې وروسته یې نوې جامې را په تن کړې او ده ته یې په لاس ورکړم. سبا ناوخته چې دې کلي ته را ورسېدو؛ نو د واده محفل یې نیولی و او ناوې

یې کړم.

غوټۍ وپوښتل:

- ادې! ته یې هم په بدو کې ورکړې؟

زرپاڼې خپلې لور ته وکتل:

- نه لورجانې! مور خو بدې نه درلوده؛ خو د بدۍ ښکار شوم. که پخوانیو خسرخېلو مې له خپلو دښمنانو سره روغه جوړه کړې وی؛ نو هغه به نه وژل کېدو. کاش چې چا جوړه ورکړې وی. کومه نجلۍ یا ښځه یې پکې ورکړې وی؛ خو دا کار یې نه وای کړی...

بهادر یې په خبرو کې ور ولوېد:

- ادې! نو په بدو کې ورکول ښه کار دی؟

زرپاڼه غلې شوه، په دې اړه خبرې ورته دردوونکې وې. په تېټ غږ یې ځواب ورکړ:

نه پوهېږم. پرېږده یې زوی جانه! ویده کېږه. هسې هم نن ستړی یې. سبا چې جومات ته لاړې؛ نو له ملا صاحب نه وپوښته. ما خو څه سبک(سبق) او کتاب نه دی ویلی. په دې خبرو هغوی ډېر پوهېږي چې کتابونه یې زده وي.

د پېریانو په کلي د خزان لومړۍ شپې ورځې راغلې وې. د شنو درو او باغونو رنګ زېړ اوښتی و. هر سهار به تر ونو لاندې د پاڼو او نازکو ماتو څانګو امبارونه پراته وو. په کلو کې د دغه فصل په راتګ سره نه یوازې چې د غرونو او باغونو ښکلا کډه کوي، بلکې د یخو بادونو او شپو راتګ هم د کلیوالو ورځني کارونه ځنډوي. نه د شپې تر ناوخته

کار کـولی شي او نـه هـم د اوړي د شـپې پـه ځېـر سـهار وختـي کرونـدو او غرونـو تـه تلـلی شي.

د منـي پـه همداسـې يـوه مازديگـر بهـادر او غوټی لـه خپلو ملگـرو عثـمان، خالـد، سـپين گل او توريـالي سره پـه بـڼ کـې لوبـې کولـې او لـه غرونـو د را کـوزو شـوو وړو مرغانـو ننـداره يې کولـه. شـور ماشـور و او د کلي لـه نـورو برخـو هم د ماشـومانو د لوبـو او شـور ماشـور غږونـه راتلل.

دود او لوگيـو د کلي د کلاگانـو او ونـو لپـاره عجيبـه منظـره جـوړه کـړې وه او د زېـړ رنگـه لمـر لـه وړانگـو سره يـې عجيبـه ننـداره جوړولـه.

عثـمان او بهـادر تـه خـو دې فصل هسـې هم چنـدان خوند نـه ورکاوه، ځکـه چـې نـه بـه يـې غـره تـه پـه گـډه رمـه بېـولی شـوای او نـه يـې هـم د نـورو ورځـو پـه ځېـر سـهار وختـي او د ماښـام تـر ناوختـه پـورې پـه کوځـو او باغونـو کـې د لوبـو او پـه وياله کـې د لامبـو چانـس درلـود.

سـاړه بـه د دې موسـم بـل غضـب و. يوازې د سـيند غاړې ته نـږدې د سـنځلو او غونځـو پـه ونو کې د ختلـو او کوزېدلو ننداره ورتـه جالبـه وه. هـر مازديگـر بـه لـه نـورو هلکانو سره له سـنځلو او غونځـو ډک جيبونـه کـور تـه را سـتنېدل. کومـه نيمـه ورځ بـه د چـا پـه چارمغـزو هـم ورپېښ شـوي وو؛ خو چارمغزو تـه د ټولو پـام و او زر خلاصېدل.

د دې موسـم د خـوراک بلـه ښـه مېلـه هـم پـه پټيـو کـې د کچالـو کلوخکـه او وچ شـوي تـوت وو چـې تـر يـوه وختـه يـې د دوی لپـاره خونـد درلـود.

یوه ورځ چې لمر لوېدلی و؛ خو په بڼ کې د ماشومانو د لوبو شور ماشور همغسې روان و، چا ننډې وېشتې او چا هم پټپټوني کول. د پټپټوني په دې لوبه کې بیا بهادر تل له ټولو مخکې و. کله به چې په خپل نوبت کې ورک شو؛ نو ټول به یې ستړي کړي وو. بالاخره به مجبور شو چې هغوی د ده په لټون کې خپله ماته ومني او بهادر ځان ورته ښکاره کړي.

په همدې مازدیګر هم بهادر د وچو لښتو د یوه امبار شاته په یوه ژورغالي کې پټ شو. عثمان، توریالی او غوټی ډېر پسې وګرځېدل، ډېرې نارې یې ووهلې؛ خو پیدا یې نه کړ. بهادر که څه هم د دوی له ستړې خوند اخیست؛ خو نور یې ورمېږ وچ و، غوښتل یې ځای او ځان ور وښيي. خو د اس د پښو اواز یې واورېد. پرته له دې چې نورو هلکانو ته پام وکړي، له پټنځې را ووت.

شاوخوا یې وکتل، هېڅ کوم اس سپور نه معلومېده. په یوه لوړه پوله د ګوتو په سر ودرېده، وړاندې یې وکتل. دغره په ډډه کې په نری لار دوه اس سپاره را روان وو. په سیوري کې سم نه معلومېدل؛ خو دومره پوهېده چې یو اس یې د پلار دی.

سترګې یې په هغوی کې ښخې کړې وې چې چا یې په اوږه لاس کېښود. ور ویې کتل. عثمان و او نورو هلکانو ته یې نارې کړې:

- راشئ، دا غل مې دلته پیدا کړ. ما خو درته ویل چې نن یې زه ګټم او که اسمان ته هم وخېژي، نو پیدا کوم یې.

د بهادر ځای پر ځای ودرېدو او چوپتیا دی هم حیران کړ. مخې ته یې را وګرځېده او ترې ویې پوښتل:

- څه شوې چې سترګې دې هغه خواته نیولې دي؟

- هېڅ هم نه، ته د اسونو د پښو غږ اورې؟

عثمان غوږونه څک کړل او ځواب یې ورکړ:

- هو دا نو څه خبره ده. اس خو څه دېو یا پېری نه دی.

بهادر وخندل.

دې وخت کې غوټی، سپین ګل، توریالی، خالد او سپین هم د دوی څنګ ته را ورسېدل او همغه خواته یې سترګې واړولې.

بهادر چې تر اوسه د ګوتو په څوکو ولاړ و، یو څو قدمه وړاندې لاړ او عثمان ته یې وکتل:

- درته ویلي مې وو چې پلار او خیالي لالا مې سهار اسونه زین کړل. هېڅ یې هم ونه ویل او له خپلو ټوپکو سره ووتل. کور یې هېڅ هم نه دي ویلي. مور مې خپه ده وایي چې کومه پېښه ونه شي.

اسونه ورو- ورو را نږدې کېدل. څو دقیقي وروسته د دوی د کلا خواته په را ګرځېدلې لار را تاو شول. اوس نو هېچا هم هغوی نه لیدل، ځکه چې لار ژوره او په ونو کې پټه وه. له ژور خوړ نه تېرېده، ټولو له باغه د لارې سر ته ور منډې کړې او په یوه میداني کې د هغوی د را رسېدو په تمه ودرېدل.

شېبه پس له وړاندې دېوالـه سره دواړه اسونه را ښکاره شول. مخکې ملک شاه میر او شاته ورپسې د خیالي ګل اس په ګړندیو ګامونو را روان و. دوی ته په را رسېدو سره دواړه

تـم شـول. خیـالي گل پـه غېږ کې څه نیـولي وو چې لـه درېدو سره یـې لانـدې را گـوزار کړ.

د ښـکرورې وزې پـه څېـر یـو حیـوان یـې مخکـې نیـولی و. پـرې شـوې غـاړه یـې پـه وینـو سره وه. پـه ډېرو یـې هـم د وچـو شـوو وینـو خاپونـه او ټپونـه معلومېـدل. هلکان ووېرېدل، شـاته شـول؛ خـو بهـادر د خپـل پـلار اس تـه ور لنـډ شـو. د هغـه پـه پښـه یـې لاس کېښـود او پـه پوښـتونکي نظـر یـې ورتـه وکتـل.

ملک شاه میر وخندل او له اس نه را ښکته شو:

- بهـادر جانـه زویـه! ولـې ووېرېدې؟ هغه تاته مـې یوه ورځ د هوسـۍ کیسـه نـه وه کـړې؟ همدا هوسـۍ ده. خیـالي لالا دې پیـدا کـړه؛ خـو نښـه ما پرې نیولـې وه. هر څو که تېـزه وه، خو د پـلار ټوپـک دې هـم ځـان تـه څـه وایي. پـه هوا کـې مرغـۍ هم نـه تـرې خطـا کېږي، وار خو د غټو شـیانو شـو.

خیـالي گل هـم لـه اس نـه راکوز شـو، هلکان یې له سـترگو تېـر کـړل او بهادر ته یـې وکتل:

- نـه، نـه هلکـه! پلارجـان هسـې درتـه وویـل. که زه نـه وی، ده خـو بـه یـوه سـویه هـم نـه وی وېشـتلې. څلـور پینځـه غرونه مـې پسـې گـزو پـل کـړل؛ خـو اخـیر مـې را چپـه کـړه. سـبا بـه لـه خـیره خپـل غاښـونه پـرې تـاوده کړو. ځـئ چې کلا تـه ځو، سـهار راهیسـې سـتړي یو.

هلـکان پرتـه لـه دې چـې د هغـه خـبرې تـه پـام وکـړي، د ویشـتلې هوسـۍ سر تـه حـیران ولاړ وو. د هغـې پـه پرې شـوي سر کـې سـترگې داسـې ښـکارېدې لکـه اوس چې هـم ژوندۍ وي. لکه اوښکې چې ترې روانـې وي او په چا پسې یې ژړلي وي.

ملک شاه میر یو دوه قدمه وړاندې راغی، غوټې یې په تندي ښکل کړه او بهادر ته یې وکتل:

- زویه! د لالا خبره دې وا نه وریده؟ ځئ چې ځو، زه ستړی یم.

بهادر لا هم حیران ولاړ و. پلار یې یو څو قدمه ور نږدې شو او بهادر ته یې په لوړ اواز وویل:

زویه تاته وایم، څنګه دې لکه ملخ رډې سترګې نیولې دي؟ څه زموږ د رمې مېږه نه ده مړه شوې. یوه صحرایي هوسۍ ده. هغه اوچت غرونه هسې هم ترې ډک دي؛ خو چاته په لاس نه ورځي.

بهادر یو قدم را شاته شو او پلار ته یې وکتل:

پلاره! دا مو ولې ویشتلې ده؟

ملک شاه میر وخندل:

- بې عقله! ښکار یې څه ته ویلی. دا خو زما یوه نشه ده. کله کله ځم. سبا ته یې چې خوږه غوښه وخورې؛ نو پوه به شې چې هوسۍ او ښکار څه ته وایي.

بهادر بیا پوښتل:

- پلاره! د غوښې لپاره خو موږ خپل کوم سېرلی او وری هم حلالولی شو. نو دا بېچاره دې څه کوله؟

خیالي ګل له دې خبرو ځان بې پروا وښود او د کلا په لور روان شو. خو ملک شاه میر د بهادر غوږ تاو کړ:

- زما بې عقله زویه! یو ستړی او بل دا احمقانه پوښتنې کوې. ولې بېچاره ده؟ مردار او حرام مال نه دی. چې کباب

يې وخوړې؛ نو پوه به شې. سبا ته زما خاص مېلمانه راځي، بس خوارکۍ د هغوی قسمت نيولې او په موږ را برابره شوه.

عثمان را وړاندې شو او ويې پوښتل:

- کاکا! دا خو به کور او بچيان هم لري؟

- هو وراره ګله! نو له اسمانه خو نه ده را لوېدلې. ته وايې چې يوازې ستا مور او پلار بچيان زېږولی شي.

هلکانو وخندل؛ خو بهادر لا همغسې جدي و او پوښتنه يې وکړه:

- پلاره! ما هم د عثمان پوښتنه کوله، اوس به يې کورنۍ او واړه بچيان ورته انتظار وي چې ادې به مو راځي او شيدې به راکوي. خو اوس به څومره خپه وي چې هغه څه شوې او چې د شپې ورنه شي؛ نو ټوله شپه به په غار کې وږي پراته وي...

ملک شاه مير له غوسې وخندل:

- دا خو مو اوږده کيسه کړه په خدای. خو دا چا ته معلومه ده چې بچيان لري او که نه؟ که وي لوی دي که کوچنيان دي؟

تا ويل چې کورنۍ لري او څه له اسمانه نه دي را لوېدلي.

ملک شاه مير وپوښتل:

- سمه ده، که دا د کومې هوسۍ مشره لور وي؛ نو هېڅ خبره نه ده، کوم بچی به يې په انتظار نه وي.

دا ځل غوټۍ د خپل پلار ګوته ټينګه کړه او هغه ته يې وکتل:

بيا به يې نو مور ورته انتظار وي چې لورجانه مې څه

وخت راځي. هره شپه به يې د راتګ لاره څارې. خو چې ورنه شي؛ نو له ګاونډيانو به پوښتنه کوي چې زما لور ورکه ده، مرسته وکړئ، مرسته وکړئ، هلى د خداى لپاره راشئ. بيا چې د شپې هوا هم سړه وي؛ نو د لېوانو له وېرې به ورپسې بېرون ته نه شي تللى. تر سبا پورې به ويښه ناسته وي.

ټولو هلکانو د غوټي خبره په سترګو کې تاييد کړه. ملک په خپل ګرد وهلي تندي را ماتې خولې په لستوڼي پاکې او وچې کړې او لور ته يې وکتل:

- ته هم دوى بې عقله کړې يې؟ هغوى خو څه انسانان نه دي چې په يوه او بل پسې دې دومره خپه شي.



غوټۍ وويل:

- پلاره! زه چې کله د خپلې ادې کوټې ته ناوخته ورشم او يا هم مريضه وم؛ نو ادې مې تر سهاره راسره ويښه وي. هېڅ خوب نه ورځي او نه ډوډۍ خوري. خو چې زه او بهادر ښه وو؛ نو دا هم راسره خوشحاله وي.

د ملک شاه مير حوصله تنګه شوه. بې له دې چې په دې اړه څه ووايي، د خپل اس پړی يې له غاړې ور تاو کړ. په شا يې ټپ ورکړ. اس وړاندې روان شو. ده خپل ټوپک بلې اوږې ته کړ او يوه هلک ته يې وکتل:

- سپين ګل بچيه! اوس دې پلار راځي، ورته ووايه چې زما ښکار کلا ته راوړي. اس طبيلې ته بوځي، تر هغو تاسې همدلته اوسئ چې کوم سپي مې پرې مزې ونه کړي. زه لاړم چې ستړی يم.

ملک په ګړنديو قدمونو روان شو. عثمان وړاندې ورغی. د مړې هوسۍ څنګ ته کېناست. په ډډه يې سره خاپ ته اشاره وکړه:

- په دې ځای يې ويشتلې. مرمۍ يې زړه ته ننوتلې او نوره مړه شوې ده. ملا صاحب خو مونږ ته ويل چې حيوانات بې ژبې مخلوق وي، ويې نه وهئ چې بيا مو ازار وهي.

سپين ګل وويل:

- ماته مې هم مور همدا خبره کړې. يوه ورځ مې غوا پېوله(څروله)، په لاره راسره سمه نه تله. يوه شنه لښته مې راپرې کړه، ښه مې ووهله. مور مې راته غوسه شوه، ويل چې بيا دې ازار وهي. کله چې شپه شوه نو په سر مې درد

شـو، ټوله شـپه مـې خـوب ونـه کـړ. مـور مـې راتـه وویـل چـې همـدا د غـوا ازار دی.

بهادر وویل:

- هـو، یـوه ورځ مـلا صاحـب ویـل چـې پـه هغـه دنیا بـه هغو خلکـو تـه هـم جـزا ورکـول کېـږي چـې پـه حیواناتـو یـی ظلـم کـړی وي. ښـکروره وزه او غـوا بـه هـم لـه کونـډې( بې ښـکرو) وزې او غـوا نـه خپـل وار(غـچ) اخـلي.

دوی لا خـبرې کولـې چـې د ملـک زوی او د سـپین گل پلار راغـی. سـپین گل ور مخکـې شـو او د خپـل بابـا خبره یـې ورته وکړه:

اول مـیر پرتـې هوسـۍ او بیـا هلکانـو تـه وکتـل. هلکانـو پـه خپلـو کـې پسپسـک کاوه، اول مـیر ورتـه غوسـه شـو:

- ځـئ لـه دې ځایـه ورک شـئ. د ماښـام پـه تررمـۍ کـې د حیـوان لـه وینـو سره ولاړ یـی. پـه غـاړه کـې مـو تاویزونـه هـم شته .

هلـکان ووېرېـدل، غـلي غـلي روان شـول او اول مـیر هـم ویشـتلې هوسـۍ پـه ډېـره سـختۍ پـه غېـږ کـې را اوچتـه کـړه.

+++

مـلا فقیراللـه چـې د خلکـو ترمنځ د ملا فقیر په نامه مشـهور و، لـه تېـرې یـوې لسـیزې راهیسـې د پېریانـو کلي پـه لـوی جومـات کـې د امامـت چـارې سـمبالولې او د کلي پـه کونـج کـې یـې کوچنـۍ کـور درلود.

هغـه لـه اصلـه د دې کلي نـه و، لـه کـوم بـل ځای نـه راغلی و. لـه ملایـۍ نیولـو وروسـته یې کډه هـم کلي تـه راوړه. په کلي

کې تيار يو کور خالي شوی و او څښتن يې خير محمد چې د عثمان تره کېده، له يوې مخې ښار ته کډه کړې وه. ملاصاحب ډېر وخت دلته و؛ خو له ډېرې مودې وروسته ورته کليوالو د کور جوړولو ځمکه ورکړه، کور يې جوړ کړ او په کې مېشت شو.

له دې وروسته په تېرو پنځو- شپږو کلونو کې ملا فقير هم د دې کلي د اصلي اوسېدونکي په څېر د خلکو په ټولو خوښيو او غمونو کې را شريک و. تر ټولو نږدې اړيکې يې هم له ملک شاه مير سره وې. په ملک شاه مير په دې گران و چې کله يې هم د ده د کاروباريانو او کوکنارو د کښت په اړه بد تبليغات نه کول.

په ژمي او سړو کې به گڼ کليوال په جومات ور مات وو او په تاوده جومات کې به يې د لمانځه تر وخته مجلسونه هم کول. خو کله به چې شپې ورځې د کار شوې؛ نو په ملا فقير پسې به يو کتار جمعه هم نه پوره کېده. ځکه خو به په دې وختونو کې ملا صاحب هم ډېر کم معلومېده او نور به په خپل کور کې له خپلو ماشومانو سره بوخت و.

د ده بل مسؤوليت هم د کلي ماشومانو ته د لمانځه، کلمې، سيپارې او قران زده کړه وه چې هغه به هم ورته ډېره سخته تمامېده، ځکه چې د کلي د نجونو او هلکانو شمېره بېخي زيات و او دی ورته يوازې و. خو له درس سره د اکثرو مينه او لېوالتيا د ده د خوښۍ سبب گرځېده.

يو څو نور هلکان بيا داسې وو چې نه يوازې په درسونو کې تر نورو ښه او لايق وو، هره خبره يې په ښه ډول په ذهن

کې پاتې کېده، بلکې کله کله به يې له ده څخه ډېر ځله داسې پوښتنې هم کولې چې ده ته ځورونکې او ننګونې وې.

د دوی له ډلې بهادر، عثمان، خالد، سپين ګل، غوټۍ او طيبه داسې ماشومان وو چې د ده کومه خبره يې هسې سرسري نه تېروله او خپلې پوښتنې يې هم له ده څخه بې وېرې کولې.

که څه هم د اوړي او کاروبار په ورځو شپو کې په جومات کې د لمنځونو او ماشومانو ته د درسونو درک نه و او نه يې هم چا پوښتنه کوله؛ خو د جمعې ورځ حتمي وه چې ماشومان بايد جومات ته حاضر شي. د تېرو زده کړو شيانو په اړه د ملافقير پوښتنې ځواب کړي او نوي درسونه ولولي.

د جمعې ورځ وه، يو ځل بيا د کلي ماشومان له خپلو سيپارو سره په جومات ورمات وو. د چا چې درس زده و او کورنۍ دنده يې په ښه ډول زده کړې وه، د جومات په لور ورته هر قدم له خوښيو ډک و؛ خو هغوی چې درس ته يې چندان پاملرنه نه وه کړې او پوهېدل چې د ملا صاحب پوښتنو ته به ځواب ونه شي ويلی؛ وېرېدل او د هر قدم په اخيستلو يې د وهلو شنې لښتې په خيال کې ګرځېدې.

درس پيل شو. په يوه شېبه کې د جومات فضا د مچيو د ګڼه ګوڼې په ځېرغړونو ډکه کړه. بهادر او عثمان د پخوا په څېر څنګ په څنګ ناست وو؛ خو د توقع خلاف يې په خپلو کې پټې خبرې کولې. د ملا صاحب پرې پام شو؛ خو څه يې ونه ويل. درېيم او څلورم ځل يې صبر تمام شو، پرې

غږ يې کړ:

محمد عثمانه! دا څنګه خبرې دي چې نه خلاصېږي، بهر مو په ساعتېريو کې لکه چې خبرو ته هېڅ وخت پيدا نه کړ، دلته سبق ته راغلي ياست که مجلس ته؟

دواړه وشرمېدل، عثمان نور ماشومان له نظره تېر کړل. ټولو ده ته کتل. غوښتل يې څه ووايي؛ خو بهادر وار پرې مخکې کړ:

- ملا صاحب! ده له ما څخه پوښتنې کولې، ما هېڅ هم نه دي ويلي.

- څه يې پوښتل؟

بهادر سيپاره بنده کړه او ځواب يې ورکړ:

- هسې پرون مې پلار او لالا غره ته په ښکار پسې تللي وو، يوه هوسۍ يې ويشتلې ده. ده ويل چې په هوسۍ مو څه وکړل، غوښه مو پخه کړه که نه؟

ملا فقير په شونډو ژبه را تېره کړه او ويې پوښتل:

- ماشاءالله، دا کار يې کله کړی دی؟

- پرون ماښام، نن مې د پلار مېلمانه راځي او هغوی ته يې پخوي.

- څه وخت راځي؟

- نه پوهېږم.

- دا خو نېک کار دی؛ خو په کور کې ووايه چې د ملا فقيرالله برخه هېره نه کړي که نه هر څه به مو بې برکته شي. اوس سبق ته متوجه شئ.

بهادر غوښتل څه ووايي؛ خو ملا صاحب په اشاره غلی

کړ او ورته ویې ویل چې د سبق له خلاصېدو وروسته له تا او عثمان سره کار لرم.

درسونه او پوښتنې روانې وې. یو ساعت وروسته نږدې ټول هلکان له درسونو او پوښتنو خلاص شول. د څو هلکانو په لاسونو لښته ماته شوې وه او ځینې د ملا فقیر د شاباسي او افرین په ډالۍ له خوښۍ په جامو کې نه ځايېدل.

په پای کې بهادر، عثمان، خالد، غوټۍ او طیبه د ملاصاحب څنګ ته ورغلل. ملاصاحب څلورو واړو ته وکتل او بیا یې وویل:

- اول زه یوه پوښتنه کوم، هر چا چې سم ځواب راکړ، جایزه لري.

د جایزې په اورېدو څلورو واړو یو بل ته وکتل، په سترګو کې یې ورسره تایید کړه چې مهرباني، پوښتنه دې کوه؛ خو خالد پوښتنه وکړه:

- جایزه به مو څه وي ملا صاحب؟

ملا صاحب وخندل:

- اوس نه درته وایم. یو ځل باید پوښتنه ځواب شي، صحیح ده؟

ټولو په یوه غږ هو وویل.ملا صاحب وپوښتل:

- په اطفالو د مور حق ډېر دی که د پلار؟

ټولو د ځواب لپاره ګوتې پورته کړې، ملاصاحب وخندل:

- ماشاءالله دا خو ټول ځواب راکولی شی؛ خو ځواب باید یوه نجلۍ راکړي. وایه غوټۍ لورې.

غوټۍ بې له ځنډه وویل:

- مور

- ولې؟

- ځکه چې له خپل اولاد سره له پلار نه هم زیات زحمت تېروي. له وړکتوبه تر ګرځېدو پورې یې په غېږ کې وي، شیدې ورکوي، مینځي یې. که مریض شي، د دوا غم یې خوري. پلار خو هسې هم په صحرا وي، اولاد ته پام نه کوي.

ملا صاحب عثمان ته اشاره وکړه چې هغه هم خپل ځواب ووایي.

- ملاصاحب! زه خو وایم چې پلار ډېر حق لري، ځکه چې هر کار د پلار په غاړه وي. په پټي او کور کې د دې لپاره کار کوي چې زوی یا لور یې په ارام ژوند وکړي. ادې ته یې جامې او د کور نور شیان برابر کړي.

ملا صاحب بهادر ته هم د ځواب ویلو اشاره وکړه.

بهادر وویل:

- زه خو وایم چې مساوي به وي، ځکه چې دواړه یو رقم زحمت وباسي. دواړه ورسره تکلیف وي. مور که د کور کارونه کوي؛ نو پلار هم د سارا ټول کارونه لکه ځمکې کرل، مال ساتل، کور ته خواړه او نور شیان راوړل، مریضانو ته له بازاره دوا راوړل او داسې نور ټول پلار کوي.

بهادر غلی شو، خو مخکې له دې چې ملاصاحب خالد ته د ځواب اشاره وکړي، خپله یې یوازې دومره وویل:

- ما هم د بهادر خبره کوله.

ملا صاحب وخندل:

افرین بچیانو! تاسې ټولو ښې خبرې وکړې. د بهادر جان

خبرې مې ډېرې خوښې شوې. دواړه يو ډول زحمت وباسي او حقوق يې هم د فرزندانو په مقابل کې برابر دي. کوښښ وکړئ چې تر خپله وسه په يوه اندازه د مور او پلار درناوی وکړئ. خو يوې بلې خبرې ته مو پام دی؟

عثمان وپوښتل:

- کومه خبره؟

- دا چې معلم او ملاصاحب هم د معنوي پلار په شان حقوق لري، هر وخت يې احترام لازم دی پرتاسې...

خالد يې خبره ور پرې کړه:

- ملاصاحب! مونږ خو معلم نه لرو؛ خو هر وخت به ستا احترام کوو. له تا نه مو لمونځ، سيپاره او قران شريف زده کړي دي.

ملا فقير دېواله ته ډډه ووهله:

- هو! افسوس چې دا زمونږ د کلي يوه بدبختي ده. مونږ معلم او مکتب نه لرو؛ خو شکر دی جومات، ملا او سبق لرو، تعليم خو په هر مسلمان نارينه او زنانه فرض دی. خدای تعالی مهربانه دی چې يو وخت به راباندې دا مهرباني هم وکړي.

عثمان خپلو ملگرو ته وکتل او بيا يې ملاصاحب ته وويل:

- تا مکتب ويلی؟

- هو زويه! ما تر شپږم ټولگي مکتب ويلی. ليک لوست مې زده کړ؛ خو بيا مې پلار په يوه ديني مدرسه کې واچولم، ديني تعليم مې وکړ. ورو- ورو راڅخه د مکتب خبرې هېرې شوې؛ خو خط ليکلی شم. د دې کلي ټولې رقعې زه ليکم

او لولم.

- مکتب څنګه وي؟

- ملا صاحب په ږيره لاس راتېر کړ:

- هلته معلمين راځي او متعلمينو ته مختلف کتابونه وايي. حساب، ژبه، بيولوژي، رسم، سپورت، تاريخ، ساينس او نورې خبرې زده کوي. څو که څوک په ديني تعليم پوه نه شي او دا کتابونه ووايي، ښه راتلونکی نه لري.

ملاصاحب غوښتل چې د هغوی د خبرو موضوع واړوي، ځکه يې ټولو ته وويل:

- تاسې څو د جايزې غوښتنه هم ونه کړه، پوهېږی څه به وي او چا به ګټلې وي؟

ټولو په يوه غږ وويل:

- څه ده او چا ګټلې؟

ملاصاحب وخندل، له څنګ تاخچې نه يې دوې وړې کتابچې او دوه قلمونه را واخيستل.

- تاسې ټولو ګټلې. په دوو کسانو به يو قلم او يوه کتابچه درکړم، پکې شريک شئ. يوه د بهادر او غوټۍ او بله هم د محمد عثمان او محمد خالد. زما طيبه لور څو يې په کور کې لري او ښه تکړه ده.

بهادر وپوښتل:

- ملاصاحب! موږ څو په خط نه پوهېږو، په دې به څه وکړو.

ملاصاحب ځواب ورکړ:

- زه څو شته يم. دومره څه خو به زده کړئ چې توري سره

وجنګوی، خپل او د خپل پلار نومونه ولیکلی شي. ما خو درته وویل چې ما په خپل وطن کې مکتب هم ویلی دی.
څلور واړه د ملاصاحب په خبره خوشحاله شول او یو بل ته یې په خوښۍ سترګې ور واړولې. خو مخکې له دې چې څه وواېي، ملاصاحب ترې وپوښتل:
- نن خو به کومې پوښتنې نه لرئ؟
بهادر ځواب ورکړ:
- لرو یې، زه یې و کړم؟
ملا صاحب د سترګو په اشاره پوه کړ چې هو، وایه.
بهادر وپوښتل:
- ملاصاحب، دا رښتیا ده چې ته د پېریانو په ژبه پوهېږې او هغوی هر وخت را حاضرولی شې؟
ملا فقیر وخندل:
- هو، هو اخیر د پېریانو د کلي ملا امام یم. دا کار چې ونه کړم؛ نو ټول کلی به د زړو کلاګانو پېریان او د غرونو بلاوې او شیشکې تباه کړي. خو تاسې به ډاډه اوسی. پېریان له ماشومانو سره هېڅ کار نه لري. په تیاره کې مو چې قدم اېښوده، له ځان سره به بسم الله وایئ او پس له ماښامه به سر تور سر، تر ونو او ناوو لاندې نه ګرځی. ځکه په دې وختونو کې پېریان خپلو کارونو ته ځي. ورسره ټکر به شئ.
ټولوغوږ نیولی و؛ خو بهادر بیا وپوښتل:
- تاته څه نه وایي؟
- زویه! ما خو له ډېرو زحمتونو او جنګونو وروسته تابعدار کړي، دم او درود مې زده کړی. دا مې هم ورته ویلي چې د

دې کلي لـه خلکـو بـه ډېـر لـرې ګرځـئ کـه نه پـه ونو پـورې بـه مـو داسـې کلـک وتـړم چـې هېڅکلـه خلاص نه شـئ.
دا ځل عثمان پوښتنه وکړه:
- پېریان زموږ په ژبه پوهېږي؟
- هـو، پـه هـره ژبه پوهـېږي؛ خو څوک چـې ونیـسي، د همغه پـه ژبـه خـبرې کـوي. ښـه او بـد لـري، ظـالم او مظلـوم لـري، کافـر او مسـلمان پـه کـې شـته دي.
خالد هم پوښتنې ته ځان جوړ کړ:
- ملاصاحب، پېریان وزو او پسونو ته څه نه وايي؟
ټولو وخندل، خو ملاصاحب جدي شو:
- مـه خانـدئ، ډېره ښـه پوښـتنه ده. هغـوی ته څه نـه وايي؛ خـو پخـوا مـې هـم درتـه ویـلي وو چـې دوی پېریـان او دېـوان



لېدلی شي، غړونه يې هم اوري. لـه حيواناتـو سره يې ملګري جـوړه کـړې ده. دوی چـې وغـواړي؛ نـو په هـره ځېـره کې ځان جـوړولی شي. کلـه د مـار او کلـه هـم د پيشـو او يـا هـم ديـوه سـپين ږيـري او بـوډۍ پـه ځېـره ځان جـوړوي. کـه له ماښـامه يـا د شـپې کلـه له کومې تـورې پيشـو او يا هم مـار سره مخامخ کېـدی؛ نـو پـام مـو وي چـې وار پـرې ونـه کـړئ، حتمـي پېـری دی او پـه بلـه ځېـره کـې يـې ځان جوړ کـړی دی.

دا ځل غوټۍ وپوښتل:

- ملاصاحب، موږ ولې پېريان نه وينو؟

- ملاصاحـب غـلی و، پوهېـده چـې د غوټـۍ پوښـتنې تـه به سـم ځـواب ورنـه کـړي، ژبـه او ځېـره يې بدلـه کړه.

هلکانـو دا ځنګـه پوښـتنې دي. لـه پېريانـو تېـر شی. کـه نـورې پوښـتنې نـه وي، زه لـه جوماتـه وځـم، پـه کـور کـې بـلا کارونـه را پـه غـاړه دي.

بهادرغوټۍ ته وکتل او ويې ويل:

- ملاصاحـب! خـور مـې تـل بـل ډول پوښـتنې کـوي. ما خو لا پوښـتنه نـه ده کـړې، زه هـم غـواړم چـې پـه ځينـو خـبرو پوه شوم.

مخکـې لـه دې چـې بهـادر پوښـتنه وکـړي، غوټۍ يـې ببرته پـه خـبره کـې ور ولوېده:

- ملاصاحـب! دی پـه کـور کـې هـم هـر وخـت زمـا پـه خبرو کـې را لوېـږي. زه يـوه بلـه خـبره کـوم، نـور څـه نـه وايم.

- وايه لورجانې! کومه خبره؟

- ملاصاحـب! پـلار مـې وايـي چـې نجلـۍ د بـل کـور ډېـوه

ده؟

ملاصاحب وخندل:

- کله يې ويل؟

- هره ورځ وايي. په هغه له مانه بهادر، اسد، سپين ګل او زمور د کلا نور ماشومان ډېر ګران دي. وايي دوی به زما شمله ساتي؛ خو لوڼې او لمسيانې مې زما په کلا کې د بل چا امانت دي.

ملاصاحب غلی شو او بيا يې ځواب ورکړ:

- ګوره غوټۍ لورجانې! د رب په نزد نر او ښځه، تور او سپين، شتمن او غريب ټول يو ډول مقام لري. د دوی برتري او ښه والی يوازې په تقوا کې دی. خو تاسې پوهېږی چې تقوا څه ده؟

ټولو په يوه غږ (نه) وويل:

ملا صاحب خبرو ته دوام ورکړ:

- په ښه ډول د الله تعالی عبادت کول، ښه کارونه، ديانت او په پوره اخلاص سره له ټولو بدو کارونو ډډه کول.

غوټۍ بيا وپوښتل:

- هلکان رښتيا هم له نجونو ښه وي؟

ملاصاحب يې په سر لاس کېښود:

- ګوره لورکۍ! درته ومې ويل، اولاد د رب تعالی ستر نعمت دی. لور او زوی د هغه پر وړاندې هېڅ فرق نه لري. زمور په خواږه پيغمبر خپله لور بي بي فاطمه بې حده ګرانه وه. ټول اطفال وربانده ګران وو. هلک او نجلۍ خو دواړه د خدای پاک ورکړه ده. که والدين يې ترمنځ فرق کوي؛ نو دا

گناه او د خدای تعالی پر خلقت پورې بد کتل دي. په ورځ د حشر به سخت حساب ورسره کېږي.

په لور پورې بد ویل، په بدو کې ورکول، وهل او یا د نارینه اولاد غوښتنه او په نجونو شرمېدل، د جهالت د زمانې یو بد میراث دی. هغوی به لوڼې ژوندۍ ښخولې او په ژوند به یې شرمېدل دی.

ملاصاحب خبرې بس کړې؛ خو غوټۍ بیا وپوښتل:

- پلار مې وایي چې نجلۍ د پلار حجره او کلا نشي ساتلی؛ خو زه په دې خبره نه پوهېږم!

ملا صاحب په سړه سینه ځواب ورکړ:

- زه خو دا منم چې ښځه یا د کور ده یا د ګور؛ خو ځینې خبرې شته چې باید ویې کړم. زموږ د کلا ساتل خو دا وي چې ټوپک واخلي، د پلار او نیکه له دښمنانو سره جنګ وکړي، کمین ورته ونیسي او وینې وبهوي. همدا کار د یوې عظیمې ګناه، یعنې قتل سبب ګرځي او له قاتل سړي بد انسان نشته. د یوه سړي وژنه داسې ده لکه د الله تعالی دا څلور کونجه دنیا دې چې ورانه کړې وي.

د کور او کلا واقعي ساتنه خو ښځې او نجونې کوي، مینديې یې کوي. که یوه ورځ هغوی نه وي؛ نو نارینه ته به ډوډۍ او د کور کارونه څوک وکړي، جامې به څوک ور ومینځي، غوا، مېږې او وزې به څوک ورته ولوشي، د مېلمه او ملاعزت به یې څنګه وشي، په نیمه شپه او تیاره کې درته ډوډۍ او خواړه څوک تیاروي؟ تاسې وواياست چې دا کارونه یو نر کولای شي او کله یې په دې اړه فکر کړی دی؟

د غوټۍ په تندي کې د خوښۍ نښې ښکاره شوې. خالد، عثمان او بهادر ته یې په داسې ډول وکتل لکه کومه سخته لوبه یې چې ترې ګټلې وي. خو نه پوهېده چې په دې خبره له دې نه هغوی ډېر خوشحاله دي.

ملا صاحب له ځایه پاڅېده او ویې ویل:

- زه هم ځم چې نور کارونه لرم. کلیوالو زما د کور د بامونو د کاګل لپاره حشر کړی دی. زه باید ورسره مرسته وکړم او غرمې ته ورته څه تیار کړو. خو ګوری بچیانو! کومې خبرې مې چې درته وکړې، ملک صاحب ته یې زما له خولې ونه رسوئ. بس له تاسې سره دې وي.

هلکانو یې په سترګو کې خبره تایید کړه، پاڅېدل؛ خو بهادر بیا پښه نیولی شو او ملاصاحب ته یې وویل:

- یوه پوښتنه مې پاتې ده.

ملاصاحب وخندل:

- بهادر خانه! ته خو په دې ډېرو پوښتنو نه مړېږې، ویې کړه.

بهادر وپوښتل:

- ملاصاحب! ښکار کول ښه کار دی که بد؟

- نه ښه دی، نه بد، نه ګناه لري او نه ثواب. په شریعت کې ورته مباح وایي؛ خو پلار ته دې ووایه چې په ښکار کړې هوسۍ کې د ملاصاحب برخه درنه هېره نه شي.

بهادر پرته له دې چې د هغه د وروستۍ خبرې په اړه څه ووایي بیا یې و پوښتل:

- خو څه چې ښکار شي؛ نو ځاله او بچیان به یې څنګه

کېږي، د هغو ګناه د چا په غاړه ده؟

ملاصاحب د جومات له دروازې بهر قدم کېښود او بهادر ته يې وويل:

- ستا د پلار په غاړه!

درېيو واړو وخندل، خو بهادر پوهېده چې دا يې د خبرې پوره ځواب نه دی، له مجبوريته موسکی شو.

ملاصاحب د جومات له وره نه په يوه نرۍ لار چې دواړو خواوو ته يې ونې ولاړې وې، روان شو؛ خو ماشومان تر ډېره ولاړ وو او په خپلو کې يې خبرې کولې.

بهادر په کوټه کې ويده و. دروازه خلاصه شوه، غوټۍ په منډه راننوته. بهادر يې را ويښ کړ.

شاوخوا يې حيران وکتل، بې خوبه و. غوټۍ پوهېده چې ورور يې غوسه شو، په لوړ غږ يې ورته وويل:

- بهادره! خلک وايي چې له مازديګره خوب ښه نه وي، ته ولې ويده شوی يې؟

بهادر خپل بالښت ته لاس کړ، غوښتل يې چې غوټۍ پرې وولي؛ خو هغې بيا له شيطانته ډکه خندا وکړه او ورته ويې ويل:

- صبر، صبر يوه ډېره ښه خبره درته کوم، ته يې شور ماشور نه اورې؟

بهادر بالښت وغورځاوه، شور ماشور يې ترغوږ شو. په بې صبرۍ يې ورته وويل:

څه شی دي، وو ايه؟

غوټۍ ځواب ورکړ:

- ورشـه کلیوالـو پـه پټیـو کـې د لېوه پـه څېر یـو شی نیولي. اوس یـې را ایسـار کـړی او لـه جومـات سره د نـږدې میدانـي پـه ونـه پورې یـې کلک تـړلی دی.

بهـادر د دې خـبرې پـه اورېـدو لـه ځایـه پاڅېـده، پـه څـو دقیقـو کـې یې ځـان تر هغه ځایه ورسـاوه. ماشـومان او ځوانان را غونـډ وو. د سپي پـه څېـر یو چاغ خـو کوچنی حیـوان یې په پـړي د تـوت پـه ونـه پـورې کلـک تـړلی و. ټولـو پـرې د شـګو او لرګیـو ګوزارونـه کـول؛ خـو هېڅـوک نـه پوهېدل چې څـه دي.

یوه ځوان وویل:

دا د پړانـګ بچـی دی، لار یـې غلطـه کـړې او زمـوږ پټـي تـه راغـلی و. چـا ویـل چـې د یږې بچـی دی، چا به ویل سـورلنډی دی؛ خـو هېڅـوک نـه پوهېـدل چې دا به څـه شي وي.

د ماښـام تـر تیـارو پورې لوبـه روانه وه. د شـپې په راتګ سره یوه ځـوان وویل:

دا چـې هـر شی دي، سـبا ته بـه د ورځـې په رڼـا معلوم شي، اوس یـې د جومـات د لرګیـو پـه خونـه کـې بندي کړی، سـبا به ورسره ګـورو. د کلیوالـو کرونـدې تـل همدې بـلاوو خرابې کړې وي، لـه کلي هـم چرګان مرګان تښـتوي.

د ټولـو همـدا خـبره خوښـه شـوه. تـړلی حیـوان یـې چـې د خلکـو چیغـو او وهلـو بـې سـیکه کـړی و، د جومـات د خسـو او لرګیـو خونـې تـه کـش کـړ او ور یـې پسـې بنـد کـړ. پـه همدې وخـت کـې د بهـادر پـام شـو چـې عثمان هم پـه یوه ګوښـه کـې ولاړ دی او د خلکـو ننـداره کـوي.

بهادر ور وړاندې شو. پر اوږه یې لاس ورکېښود؛ خو مخکې له دې چې څه ووایي، هغه ورته وویل:

ډېر ظلم یې پرې وکړ. له منډو او غپا لوېدلی دی. لکه چې لار ترې غلطه شوې او بیا د کمال الدین دوی ویالې ته لوېدلی و، ماته یې بچی ښکاري، وړوکی دی او لار به نه وي ورته معلومه.

په دې وخت کې یو چا غږ کړ:

- ځئ نو ټول له دې ځایه لاړ شئ، سبا ته به ورسره وګورو...

ټول روان شول، بهادر او عثمان تر کوره پورې د نیول شوي حیوان په اړه خبرې کولې چې څنګه مرسته ورسره وکړي؛ خو اخیر یې پلان ونیوه.



د شپې لـه ډوډۍ خوړلـو وروسـته چـې خلـک لـه لمانځـه بېرتـه کورونـو تـه راغلـل، بهـادر لـه وعـدې سره سـم لـه ځایـه پاڅېـده، لـه کـوره پـټ ووت او د عثـمان دوی تـر کوځـې پـورې غـلی لاړ. چوپـه چوپتیـا وه. د عـادت لـه مخـې یې غلی شـپېلی وکـړ. لـه شـپېلي سره عثـمان هم لـه کـوره غـلی راووت. دواړه د جومـات پـه خـوا روان شـول.

تپـه تیـاره وه. د جومـات د لرگیـو خونـه پـه زنځیر تړل شـوې وه. لـه چولـو یـې د بنـدي او د کلیوالـو پـه گوزارونـو د ټپـي ژوي د زگېـروو اوازونـه راتلل.

بهادر د عثمان په غوږ کې وویل:

- که یې خوشی کړو، په خپلو پښو تللی شي؟

عثمان ځواب ورکړ:

- هـو، پښـې خـو یـې جـوړې دي، مابـام یـې له وېـرې ځان داسـې اچولی و.

- که یې د کلي سپي وخوري؟

عثمان بیا ورته وویل:

- هغـه چـې هـر شی دی، د سـپیانو زور پـرې نـه رسـېږي. اوس بـه وږی وي. کـه همدلتـه پاتـې شي؛ نـو تـر سـهاره بـه له لـوږې مـړ وي او بیـا نـه شي تښـتېدلی.

- وچه ډوډۍ به ورته راوړو؟

عثمان غلی و؛ خو بیا یې وخندل او ځواب یې ورکړ:

- مـوږ څـه پوهېږو چـې څـه خـوري. دا خـو د لـوړو غرونـو حیـوان دی. خـوراک یـې نـه دی راتـه معلـوم.

دواړه یـوه شـېبه غـلي وو؛ خو وروسـته بهادر ور وړاندې شـو.

زنځير يې غلې خلاص کړ، ور يې په داسې ډول پرانيست چې غږ ونه کړي. دواړه د دېواله څنګ ته غلي او وېرېدلي ودرېدل. بندي حيوان شېبه پس له وره سر را ويوست، ويې ليدل چې هېڅوک هم نشته. په يوه منډه مخامخ ميداني ته ورسېده او بيا لاندې پټيو ته ښکته شو.

دواړو هلکانو د کاميابۍ احساس وکړ. يو بل ته يې وکتل؛ خو عثمان اندېښمن ښکارېده. بهادر ترې وپوښتل:

- دا خو د ثواب کار دی، ته ولې خپه يې؟

- هسې يوې بلې خبرې ته.

- کومه خبره؟

- تېر کال چې دواړو په پټيو کې د ژرندګري اکبرکاکا د مرغيو دامونه خلاص کړل او بندي مرغۍ مو ترې خوشې کړي؛ نو چا ور ښودلي وو او څو ورځې پس يې په جومات کې د جمعې له لمانځه وروسته د دواړو نومونه واخيستل، ولې، هېر دې دي چې څنګه يې ورټلو. زه وايم که بيا چا ليدلي وو او يا يې په موږ را واړوي.

بهادر وخندل او د ډاډ له پاره يې ورته وويل:

- هېڅ مه وېرېږه. دا بلا څوک څه کوي. هسې هم ماښام ټول خپلو کورونو ته لاړو، هېڅوک هم نه وو پاتې. بيا که چا پوښتنه کوله، ملاصاحب ته به پټ وواېو، هغه خو د دامونو او مرغيو په جنجال کې هم ويل چې هلکانو که هر څه کړي، د خير کار يې کړی دی.

له دې خبرې سره عثمان هم موسک شو. دواړو حرکت وکړ، هر سيوري او ونې ته يې د را روان سړي په شک کتل.

تـر یـو ځایـه غـلي وو او بیا پـه منډه خپلـو کورونو ته روان شـول. خـو هـر یـوه پـه زړه کـې د خوښـۍ احسـاس کاوه او پوهېـدل چـې نیـول شـوی حیـوان بـه تـر سـهاره خپلـې مـور او غـار تـه رسـېدلی وي. هلتـه بـه ورتـه د کلیوالـو لـه ظلـم او وهلـو کیسـه کـوي.

⁂

سـهار مهـال غوټـۍ د خپـل کـور پـه دهلیـز کـې د پښـو پـه سر ناسـته وه. څېـره یـې خوبولـې معلومېده، ویښـتان یې ګډود وو. پـاس د دهلیـز پـه کونـج کې او د وره لـه سر سره یوې لویې غنې(تارکشـې) پـه خپلـه ځالـه کـې یـوه خـوا بلـه خـوا منـډې وهلـې. تارونـه یـې د دهلیـز تـر څـو تیرانو غځـولي وو.

د غنـې دا لوبـه ورتـه ډېـره عجیبـه ښـکارېده. لکـه کـوم څـه یـې چـې ورک کـړي وي او یـا غـواړي چـې خپل کور لـه سره په نـوې بڼـه جـوړ کـړي.

پـه همـدې وخـت کـې یـې مـور زرپاڼـه له یـوې جـارو سره را ننوتـه، د لـور پـه لیـدو وارخطـا شـوه او ویـې ویل:

- ولـې داسـې ناسـته یـې غوټـۍ لورې؟ ښـه یـې، چـا خو به څـه نـه وي درتـه ویلي؟

بیـا یـې بهـر د کلا منځتـه وکتـل. د لویـې کلا ټولـې برنـډې خـالي وې. د دوو بنـو اولادونـه یـې لا هم له خپلـو کوټو څخه نه وو راوتـلي. د کلا منـځ هـم خالي و، یوازې چرګانو او یوې پیشـو پـه رېږدېدلـو پاڼـو او بوټو کې منـډې وهلـې.

بیا یې غوټۍ ته وویل:

- ولې داسې ناسته یې او څه ته ګورې؟

غوټۍ ځواب ورکړ:

- هیڅ، ښه یم، خوب مې پوره شو او را پاڅېدم.

لور یې له لاسه ونیوه. دواړه خپلې کوټې ته ننوتلې. د بهادر ځای هم پروت و؛ خو خپله وتلی و. غوټۍ یې تر څنګ کېنوله:

- بهادر خو به نه وي وهلې؟

- نه، هغه له مانه وختي پاڅېدلی او بهر ته وتلی دی.

- ما خو هسې د غمې ځالې ته کتل او خپل بېګانی خوب را یاد شو.

- خوب دې لیده؟

- هو

- ښه دې لیده، څنګه و؟

- ټول رانه هېر دی؛ خو لږ لږ مې په یاد دی. لیدل مې چې غره ته تللې وم. یو ځای ته چې ورسېږم د ژړا اواز راځي. هرې خواته لاړه شم؛ خو هېڅوک هم نه وي. یو وخت مې پام شي چې د یوې ونې ترڅنګ د هوسۍ دوه کوچنې بچیان ناست دي او ژاړي.

زما په ورتګ سره منډې کړي؛ خو زه ورته وایم چې ودرېږئ، څه نه درته وایم. زه خو هم تاسې غوندې کوچنۍ یم. هغوی هم زما خبره ومنې، پوښتنه ترې وکړم چې ولې ژاړی؟

له دوی نه یې هغه کوچنۍ په ژړا کې راته وایي چې ورې یو. ادې مو ورکه ده او نه ده راغلې. دا دوې شپې په غار کې تکې تنها تېروو. هېڅ مو نه دي خوړلي. په دې ځای کې

يـو لېـوه گرځـي را گرځـي. لکـه چې په ادې پسـې مـو گرځي. حـيران يـو چـې ادې مـو چېرته ورکـه ده او مـور به تر ځـه وخته داسـې پـه وېـره کې ژونـد کوو.

لـه مـا سره لـږ ډوډۍ وي، زر يـې په مخکې ورتـه کېږدم چې دا وخـوري. زه بـه تاسـې تـه هـره ورځ ډوډۍ او اوبـه راوړم. کـه کـور تـه هـم راسره ځـئ، زه بـه هلتـه درته ښکلی غار جـوړ کړم او زمـوږ سره بـه اوسئ. خـو د هوسـۍ دواړه بچيـان وايـي چـې مـوږ ستاسـې ترخـه ډوډۍ نـه خـورو. مـوږ د خپلـې ادې گرمې شـيدې او خـواږه واښـه يادېږي. هلته په دې هـم نه درسره ځو، ځکـه چـې ټول انسـانان تـا غوندې نـه دي. ادې مـې راته ويلي چـې لـه انسـانانو به لرې تښـتئ.

ماتـه زر را يـاد شي چـې د دوی ادې خـو زمـا پـلار او لالا پـه ټوپـک ويشـتلې وه؛ خـو لـه شرمـه نـه شـم ورتـه ويـلی چـې ستاسـې ادې مـا ليدلـې او مړه شـوې ده. د دوی پـه ژړا زه هـم پـه ژړا شـم. پـه غـره کـې پـه زوره -زوره ژاړم. اخـر په خپلـه ژړا را ويښـه شوم.

زرپاڼې خپله لور سينې ته نږدې کړه او ډاډ يې ورکړ:

- لـورې! پـه دې خوبونـو بـاور مـه کـوه. حيوانـات خـو زمـوږ پـه خبـر مـور او پـلار نـه پېـژني. دوی خو هر يـو پـه يوازيتـوب ژونـد کـوي. دا شـيان خـو خـدای پـاک د انسـانانو لپـاره پيـدا کـړي دي، تـه هېـڅ زړه مـه بـدوه. راځـه چـې نـن خپلـه کوټه او دهلېـز پاکـوو. پـلار دې ويـل چـې پـه دې ورځـو کـې دې بابـا راځـي، بيـا بـه وايـي چـې د لـور او لمسـۍ کوټـه يې خېرنـه وه.

په غوټۍ دا خبره ښه ولگېده، په ځای کې را نېغه شوه:

- بابک مې راځي، رښتيا وايې ادې؟

زرپاڼې سوړ ځواب ورکړ:

- هو! شايد راشي. نه پوهېږم، پلار خو دې همداسې ويل.

په دې وخت کې بهر د کشکرې(يو ډول مرغۍ) غږ شو. غوټۍ په منډه ووته، په برنډه ودرېده،. پاس د کلا د دېوال په څنډه يوه کشکره ناسته وه. په لوړ غږ يې غاړې کولې او تر څنګ يې ګڼې وړې خړې مرغۍ ناستې وې.

مور يې هم ور ووته، په شونډو يې موسکا خوره شوه او غوټۍ ته يې وکتل:

- لورې! لکه چې د پلار خبره دې رښتيا ده.

- کومه خبره؟

- مخکې مې چې درته وويل، د بابا راتګ دې يادوم.

- ښه، څه پوی شوې؟

- نه ګورې چې کشکره په شنه سهار د کلا په دېوال نارې وهي. دا مرغه هر وخت د چا په دېوال نه کېني او نه چغېږي. فقط هغه وخت د کوم کور په دېوال کېني چې هغه کور ته مېلمه را روان وي.

غوټۍ ته دا خبره جالبه وه. له خپلې مور يې وپوښتل:

- ادې! په دې کلا کې خو څو کوره دي. د دوی خپلوان خو زموږ نه ډېر دي. ماماګان او باباګان يې هر وخت راځي. بيا به هم د هغوی کور ته را روان وي. ته څنګه وايې چې ...

مور يې خبره ور پرې کړه:

- نه لورې! کشکره زموږ د کوټې مخامخ ناسته ده او د دېوال دا برخه خو زموږ د کوټې په ساحه کې راځي. خو دا

پرېږده، راځه چې د جارو او پاکولو کار پيل کړو.

مور او لور بېرته کوټې ته را ننوتې. زرپاڼې د کوټې جارو په يوه واړه لرگي پورې کلکه وتړله؛ خو غوټۍ وپوښتل:

- ادې داسې يې ولې کوې؟

مور يې ځواب ورکړ:

- نه گورې چې د دهلېز چت د غنو ځالو او تارونو نيولی، د کوټې په تېرانو هم گرد پروت دی. زما لاس خو نه وررسېږي. داسې به لږ سم پاک شي.

غوټۍ بيا وپوښتل:

- نه ادې، اوبال لري. ته ولې د غنو ځالې ورانوې؟ چې کور يې وران شي، بيا به بېچاره گانې چېرته ژوند کوي. د جارو په تارونو خو مړې کېږي. زموږ کور خو نه خوري، وي دې.

زرپاڼې جارو چت ته اوچته کړه او ځواب يې ورکړ:

- لورې! اوس مو هم ډېر وخت پرېښې وې. مشران وايي چې په کور کې د غنو جالونه او ځالې په سرې غريبي او تنگ لاسي راولي. دا د فقيرۍ نښه وي. بايد پخوا مې پاکې کړې وی؛ خو ښه ده چې سهار مې تا ورته پام کړ.

غوټۍ په ځای کې ودرېده او ويې ويل:

- ادې! زه خو وايم گناه لري. له دې ځالو خو زموږ د کدانې، غوجلې او طبيلې ټول تيران ډک دي، بېخي خالي ځای په کې نه دی پاتې. خو هغه دي پلار مې ښه ډېره ځمکه او رمه لري. هر وخت ورته خلک پيسې راوړي او يا يې نورو ته ورکوي.

زرپاڼه بې ځوابه شوه؛ خو ورته ویې ویل:

- دا بې ځایه خبرې پربږده. غوجله او کوټه خو فرق لري. چې داسې پرې خپه کېږې، ورته ووایه چې له دې ځایه دې لاړې شي او هلته دې له نورو غڼو سره واوسي. زه نه غواړم چې لاس مې تش او سپېره شي. تل خو به دې د پلار خانې ماني نه وي.

زرپاڼې دا خبره وکړه او بیا یې د دهلېز په چت کې د غڼې ځاله رنګه کړه، تارونه یې په جارو پورې ونښتل او ګرد ورنه پورته شو. غوټۍ هم څه ونه ویل او په کوټه کې د خورو شیانو په ټولولو یې پیل وکړ.

+++



د پېریانـو کلي زړې کلاګانــې او کورونـه چې په زاړه کلي يې شـهرت درلـود، رښـتیا هـم وېرووونکـې وي. لـه مازدیګـر وروسـته بـه هـر څه ډېـر له وهمـه ډک ښـکارېدل. تا به ویل چې سـخته زلزلـه پـه کـې تېره شـوې او هـر څه یې پـه بل مـخ اړولي دي.

د لـوی والي پـه لحاظ د نوي کلي لـه نیمایي نه هم کوچنی و. لـه دې معلومېـده چـې اوسـنی لـوی کلی لـه دې څـو ورانـو کلاګانـو راوتـلی او پـه څـو نـورو کورنیو له وېشـل کېدو وروسـته اباد شـوی دی.

وحـشي ژوو تـه د زاړه کلي په سـوړو او کنډوالـو کې د ورځې او شـپې یـو ډول ازادي وه، ځکه پوهېـدل چې دې خواته څوک پـه ځانګـړي ډول ماشـومان ډېـر او حتـی ښځـې نـه راځـي. د کلي د پخـواني کارېـز یـو څو سـپرغې هـم لـه دې کلاګانو سره نـږدې وې او تـل بـه یـې پـه سر صحرایي کوتـرو پروازونـه کول.

یـوه غرمـه چـې د عثمان، بهـادر او خالد د رمـې څرولو نوبت و، لـه ځـان سره یـې همدا تصمیـم ونیوه چې هـر څنګه کېږي، بایـد د زاړه کلي کلاګانــې کنډوالـه پـه کنډوالـه وګـوري. ځکـه پوهېـدل چـې د ورځـې هلته ورتګ ډېر سـخت نـه دی او نه هم شـته بلاګانــې د ورځـې له خـوا چاته څـه وايي.

درې واړو رمـه لـه زاړه کلي وړانـدې د غـره پـه لمـن کـې خوشـې کـړه. د لمـر ځلانـده او رڼـې وړانګـې تـودې لګېـدې. درې واړو د نښـې ویشـتلو لوبـه بـس کـړه او د زاړه کلي خواتـه روان شـول. کنډوالـو تـه لـه رسـېدو وړانـدې د کارېز د سـپرغې پـه غـاړه تم شـول. د سپرغې خولـه لوڅـه وه؛ خو په غـاړه یې د شینشوبو او ځوزو ځنګل جـوړ و. شاوخوا د مرغانو بڼکې باد وې.

درې واړو د سپرغۍ پر غاړه د کېناستو ځای جوړ کړ.

خالد یوه کوچنۍ ډبره را اوچته کړه او سپرغۍ ته یې گوزار کړه. ډبره د سپرغۍ په یوه او بله ډډې ولگېده، اواز یې وکړ.

لاندې د مرغه د وزرونو ترپار شو. اواز درې واړه ووېرول. شېبه پس دوې شنې کوترې د سپرغۍ له خولې وېرېدلې را پورته شوې. درې واړه پاڅېدل او ورپسې کتل یې. جوړه کوترې لاړې او وړاندې د یوې غونډۍ په اوچته برخه کېناستې.

بهادر بېرته کېناست او خالد ته یې په غوسه وکتل:

- دا دې څه وکړل؟ که یې اوس وزرونه مات شوي او یا مړې شوې وی؛ نو ټوله گناه او اوبال به یې ستا په غاړه و.

خالد وخندل:

- ته خو یې څه پلار نه یې. زه څه خبر وم چې په سپرغه کې به اوس هم کوترې وي. ما ویل که یوازې د شپې ورته را ستنېږي، ما خو غوښتل معلومه کړم چې څومره ژوره ده او اوبه هم په کې شته او که نه؟

عثمان هم د بهادر خبره تایید کړه او ویې ویل:

- دلته هر وخت کوترې وي. په سپرغه کې د کوزېدو لپاره د پښو تکیه کولو ځایونه جوړ شوي او لاندې د اوبو په غاړه هم داسې ځایونه شته چې کوترې په کې ځالې جوړوي، هگۍ کوي او بچیان لویوي.

خالد بیا وخندل:

- په دې تیاره سوړو کې څه کوي، نور ځایونه کم دي؟ دا خوارکۍ به هلته په تیاره کې څنگه خپل بچیان او ځالې

ګـوري. بچيـان بـه يـې څومـره وېرېږي. زمـا پلار خـو دا هم ويل چـې د کارېزونـو پـه تيـاره لښـتي کـې د اوبـو مـاران هـم ژونـد کـوي او هلتـه پـه خـاورو او د مرغانـو د هګيـو پـه خوړلـو ژونـد تېروي.

عثمان غلی و او بيا يې وويل:

- د اوبو ماران هم وي؟

د خالد په ځای بهادر ځواب ورکړ:

- هـو د سـيند پـه غـاړه مـې چې غـوا څرولو ته بېولـې وه، څو ځلـه مـې ليـدلی دی. پـه اوبـو کـې يـې ښـه سـمه لمبـا وهلـه. کلـه يـې چـې زه وليـدم؛ نـو غوټـه يـې وخـوړه او لـه سـترګو مې ورک شـو. بيـا مـې مـور ويـل چـې د اوبو مـاران د کبانـو په څېر نـه دي، پـه وچـه او اوبـو دواړو کـې ژوند کـوي؛ خو زهـر يې ډېر خطرنـاک نه وي.

عثمان وويل:

- پـلار مـې وايـي چې مار د انسـان دښـمن دی؛ خـو زه وايم چـې د هـر څـه دښـمن دی. څـوک يې چـې ويني بايـد ژوندی يـې پرې نږدي. زمـوږ زېـړه کـې غوا د مـار له لاسـه مړه شـوه، په غـاړه يـې چيچلـې وه او دوې ورځـې وروسـته ډډه را واوښـته او مـړه شـوه. رښـتيا پـلار مې دا هم راتـه ويل چې په کوتـرو به کار نـه لـرې، ډېـر ازار لري.

خالد وپوښتل:

- ازار لري؟

- هـو، وايـي چـې ډېر پـاک مرغـه دی، چاتـه ازار نه رسـوي. کـه څـوک يـې مړه کـړي او يا يـې وځوروي؛ نـو خامخا پـرې يوه

ټکه را لوېږي.

بهادر وخندل:

له همدې خاطره زه خالد ته غوسه شوم. ماته يوه ورځ زموږ پيشو کومه کوتره را نيولې وه او مړه يې کړه. مور مې هغه پيشو راته په بوجۍ کې واچوله او ويل چې له سيند پورې غاړه کې يې خوشې کړه چې بيا رانه شي، ځکه چې صحرايي کوتره يې خوړلې. هسې نه چې کوم ازار راباندې راشي، ځکه چې کوترې زموږ له پاک پيغمبر(ص) سره مرسته کړې. کله چې په غار کې له کافرانو پټ شوی و؛ نو يوه کوتره راغله او ډېر زر يې د غار په خوله کې ځاله جوړه کړه، هګۍ يې واچولې او ورباندې کېناسته. کله چې کفار راغلل چې په غار کې زموږ پيغمبر پيدا کړي؛ نو ويې ليدل چې هلته يوه کوتره په هګيو ناسته ده. نو وګرځېده او خپلو ملګرو ته يې وويل چې هغه دلته نشته، ځکه که راغلی وی، اوس به هغه کوتره هم له خپلې ځالې او هګيو الوتلې وه. هغوی هم ورسره ومنله او روان شول.

خالد ته دې خبرې خوند ورکړ او غلی شو، لکه په خپل کار چې پښېمانه شوی وي. ملګرو ته يې وکتل او ويې ويل:

- ماته مې نيا يوه بله خبره هم کړې، اوس را ياده شوه.

دواړو ترې وپوښتل:

- څه خبره؟

- زما لالا دې خدای وبښي، يو ځل يې کور ته دوې کوترې راوړې وې، انا جانې مې ورته وويل چې زويه دا دې هسې راوړې دي. کوترې خو دوه بخته وي، په چا پسې ځي او چا

پسې نه. د ځینو ورسره بخت راوینښ شي، شتمن او نېکمرغه شي؛ خو ځینې ورسره بدمرغه او غریب شي. خو هغه نه منله او د کلا په کونج کې یې ځاله ورته جوړه کړه.

دوې میاشتې وروسته چې زما لالا په غره کې په بم والوت او مړی یې راووړ؛ نو انا مې په چیغو چیغو ژړل او ویل یې چې ځوانیمرګه! نه مې درته ویل چې موږ بخت نه لرو او کوترې له کوره ورکې کړه.

په همغه سبا مې پلار هغه کوترې چې ډېرې شوې وې، په یوه کڅوړه کې واچولې او نه پوهېږم چې چېرته یې یوړې. بیا مو په سترګو هم ونه لیدې.

درې واړه یوه شپېه غلي وو. هغه کوترې بیا راغلې، د دوی له پاسه یې یوه دوره ووهله او بیا بېرته په هوا کې ورکې شوې.

بهادر خپلو ملګرو ته وکتل او ویې ویل:

- هغه کوترې بیا د خپلو ځالو لپاره راغلې؛ خو چې موږ یې ولیدو، بېرته لاړې. راځئ چې له دې ځایه لاړ شو، هسې نه چې ازار راته وکړي او اوبال یې را پسې شي.

دوی د سپرغې له خولې پاڅېدل، د زړو کلاګانو خواته ورو- ورو نږدې کېدل. په لارو او کوڅو کې لوی او واړه اغزن او وحشي بوټي راشنه شوي او ځینې یې وچ شوي وو. حشرو او کله کله څرمښکیو د هلکانو له لارې ځانونه چپول. وړاندې یوه زاړه سپي هم د دوی له لیدو سره وغپل؛ خو د خالد د ډېرې د یوه ګوزار سره یې د کنډوالې په لور منډې کړې او د دوی له سترګو ورک شو.

دا لومړی ځل نه و چې دوی د خپل زاړه کلي په کلاګانو او کندوالو ګرځېدل. په کار کې یو-دوه ځله خامخا دلته را پېښ شوي وو. دلته هر ځل راتګ دوی ته ځانګړی خو له وېرې ډک خوند درلود.

هر ځل له نوو خبرو سره مخ کېدل، د هر یوه په ذهن کې به د پېریانو او دېوانو نا معلومې څېرې ګرځېدې چې اوس به له کوم لوري غږ پرې کوي؛ خو یوه ورځ هم داسې پېښه ونه شوه.

د کندوالو او پرېوتو دېوالونو ترڅنګ د شغالانو، ګیدړانو او نورو ژوو تازه غارونه ورته هر ځل حیرانوونکي وو؛ خو تر ټولو ډاروونکې هغه چوپتیا وه چې کله کله به د مرغانو په چغار او یا د کوم ژوي په منډه ماته شوه.

درې واړه زړه نازړه مخ پر وړاندې تلل؛ خو هر یوه خپله وېره په زړه کې پټه ساتلې وه. نه یې غوښتل چې د څرګندولو په سبب یې له مودو وروسته د کندوالو د لیدلو شوق خراب شي.

یوه ژور غالي ته په رسېدو سره خالد وپوښتل:

- دومره لوی کلی به څنګه یو وخت په دې څو تنګو کلاګانو کې ځایېده؟

بهادر او عثمان غلي وو؛ خو وروسته بهادر ځواب ورکړ:

پلار مې ویل چې هغه وخت کورنۍ وړې وې، یوه کور په یوه کوټه کې ژوند کولی شو. اوس چې په کورونو کې څومره شیان وي، هغه وخت یې نه لرل. داسې هم وو چې څو ورونو به په ګډه یو جوړ ښه بوټ ساتل او بیا به چې

کوم یو چېرته کوم واده یا بل څه ته تله؛ نو په پښو کول به یې. اوس خو وخت بدل شوی او خلک ډېر شوي دي.

له څو نورو دېوالونو هم زړه نازړه تېر شول. د دېوالونو په منځ کې لوی لوی اغزن بوټي او واښه ولاړ وو. ترمنځ یې تر دېوالونو پورې موړکانو او مږو د تګ راتګ لارې جوړې کړې وې. ځای ځای د چرګانو او مرغانو بڼکې هم باد وې.

له یوې کنډوالې سره خالد غږ کړ:

- وا دا ګورئ!

بهادر او عثمان وارخطا یو قدم شاته شول او خالد ته یې وکتل:

- څه شی دي؟

خالد د چرګ یو سور رنګه وزر را پورته کړ چې یوازې بڼکې وربانديې پاتې وې. بیا یې دوی ته وویل:

- دا خو زموږ چرګ دی. په پلار مې ډېر ګران و؛ خو دوې شپې وړاندې ماښام مرغانچې ته رانه غی او ورک شو. ډېر ځایونه مو پسې وکتل. مور مې ویل چې د بل چا کورته به تللی وي، بېرته به راشي. ما مې پلار ته وویل چې کومې ګیدړې به وړی وي؛ خو هغه نه منله، ویل یې کور یې ورک کړی، حتمی به راځي. خو دا د همغه وزر دی. مور سور رنګ پرې موښلی و. زما خبره سمه وه، ګیدړو دا بېچاره دلته راوړی او بیا یې په مزه خوړلی دی.

بهادر او عثمان هم د خالد په لاس کې وزر ته په ځیر-ځیر وکتل او وړاندې روان شول، پام یې شو چې لاندې له یوه ژورغالي مړه لوګي راپورته کېږي. درې واړه یې ووېرول.

بهادر په ټيټ غږ وويل:

دلته خو له پېريانو پرته بل هېڅوک هم نه وي؟ هغه هم د شپې راځي، بيا نو لوګی له کومه شو؟

وېرېدلو ملګرو يې ځواب ورنه کړ، بهادر بيا وويل:

- بايد بېرته شاته لاړ شو، خپلې رمې ته ورځو. هسې نه چې کومې بلا اور بل کړی وي.

عثمان ځواب ورکړ:

- هرڅنګه چې وي، پټ ورګورو او بيا تښتو. هسې هم هغې خواته لاره خلاصه ده او تښتېدلی شو.

بهادر او خالد يې د سر په خوځولو خبره تاييد کړه. درې واړه په نيولو پښو وړاندې ور روان شول. د کنډوالې بلې خوا ته د يو چا د خبرو ټيټ غږ راته چې سم اورېدل يې سخت وو. په همدې وخت کې د خالد له پښې سره يوه کوچنۍ ډبره وښويېده او د ژورغالي خواته ور ورغړېده. لاندې په يوه پرېوتي دېوال ولګېده او غږ يې وکړ.

درېيو واړو يوه او بل ته وکتل. د خالد په دې کار يې هغه په سترګو کې ملامت کړ. لاندې د دېوال له څنګه يو سړی چې اوږد ځادر يې له ځانه تاو کړی و، را ښکاره شو؛ خو د دوی په ليدو يې بېرته ځان پناه کړ. دوی زبون وهلي او غلي ولاړ وو. غوښتل يې بېرته په شا وتښتي؛ خو د دېوال له څنګه دوه نور کسان هم را ښکاره شول. د يوه په لاس کې ټوپک هم و. ويې خندل او يوه يې په شمبرلو تورو وويل:

- واه واه مېلمانه راغلي، راځئ راځئ، را ښکته شئ.

بهادر او ملګري يې نه پوهېدل چې څه وکړي. پوهېدل

چې په کومه بلا اوښتي. کله به يې ويل چې همدا به پېريان وي، ځکه چې ملا صاحب ورته ويلي وو چې پېريان په هره جامه کې ځان ښکاروي.

ولاړو کسانو چې د دوی کوم غږ وانهورېده؛ نو خپل ټوپک يې اوچت کړ او غږ يې پرې وکړ:

را ښکته شئ، که نه راځئ او يا مو تېښته وکړه، بيا خو دا زما ټوپک ډېر بد عادت لري، څوک نه پرېږدي چې وتښتي.

يو کس را اوچت شو. سر، خوله او پزه يې په يوه خيرن دستمال تړلي وو، يوازې سرې سترگې يې ښکارېدې چې له چوخړو او اوښکو ډکې وې. دوی ته يې خيرن لاس د سترې مشو په دود ورکړ؛ خو همداسې په هوا کې پاتې شو.

سړی غوسه شو، بهادر يې د ټوپک په خوله چوخ کړ او په ډډ غږ يې ورته وويل:

- ښکته شئ، لاندې خبرې کوو. زور ته مې مه مجبوروئ...

درېيو واړو يو بل ته وکتل. زړه نازړه يې قدم واخيست، لاندې کوز شول. د دېواله څنگ ته په برنډه غوندې جوړ کړي ځای کې د ده په څېر درې نور کسان هم مول وهلي ناست وو. د بل کړي اور په سکروټو يې يو ډول سيخونه اړول را اړول. کنډواله بد بوی په سر اخيستې وه. يو څو متره وړاندې د چرگانو او کوترو بڼکې هم پرتې وې.

درې واړه يې دېوال ته ودرول. ناستو کسانو دوی ته وکتل، په خپلو منځو کې سره وپسخېدل او بيا يې يوه په شمېرلو الفاظو او ټيټ غږ وويل:

ـ ښه گلونو دلته مو څه کول او چا را لېږلي يی؟

بهادر او ملګري يې غلي وو. هغه کس بيا خپله پوښتنه تکرار کړه:

- تاسې ته وايم. د وخته خو مو د بلبلانو په څېر غږ راته، اوس ګونګيان شوی؟

عثمان خپلو ملګرو ته وکتل او ځواب يې ورکړ:

- دلته مو غره ته رمه را وستلې، په لاره تېرېدو..

هغه کس له سکروټو يوه چاړه راپورته کړه او بيا يې په هوا کې ونيوه:

ګورئ، زما دا چاړه چې ده، دروغ يې هېڅ نه خوښېږي. داسې تېره ده چې تيرې ته يې هم ور واچوې، دوې ټوټې يې کړي. نو ستاسې غوړونه خو ډېر نازک دي، پوه شوئ؟

عثمان وېرې واخيست او په لړزاند غږ يې وويل:

- تاسې څوک يئ؟ که پېريان يئ؛ نو موږ خو کوم زيان درته نه دی رسولی. موږ يو هم د شپې په تياره کې نه ګرځو.

د ولاړ کس تندی وغوړېده او د خپل بل ملګري په غوږ کې يې څه وويل:

هغه را پاڅېده، په ډډ غږ يې خبرې پيل کړې.

- هو! موږ پېريان يو. دا زموږ کلی دی. دا سکروټې او سيخونه مو خوراک دي. اوس له تاسې سره څه وکړو؟ د کاريز په سپرغو کې مو وغورځوو که د تل لپاره مو راسره بنديان کړو چې بيا مو کورونه په سترګو هم ونه وينې.

بهادر د هغوی خيرنې جامې او ځادرونه له نظره تېر کړل. په پزه يې بيا هم بد بويونه لګېدل. غوښتل يې ورته ووايي چې دی د ملک شاه مير زوی دی، په ملا صاحب ګران دی.

که په ده او ملګرو یې څه وشي؛ نو ملا صاحب او پلار به یې له دوی سره حساب وکړي. خو له ناستو کسانو یوه وویل:

- هلکانو! زموږ خبره منئ که یوه جزا درکړو؟

عثمان یو ځل بیا بهادر او خالد ته وکتل او بیا یې وویل:

- تاسې له موږ څه غواړئ. موږ خو کوم تاوان نه دی درته رسولی؟

ولاړ کس وویل:

- زه پوهېږم. زه ښه انسانان پېژنم، ځکه څه نه درته وایم. دا ځل به مو وبښو، په دې شرط به مو پرېږدو چې دلته د راتګ او زموږ د لیدو په اړه به هېچا ته هم څه نه وایئ، لکه هېڅ شی مو چې نه وي لیدلي.



عثمان داسې حس کړه لکه هغوی چې ټوکې ورسره کوي. په زړه کې خوشحاله شو او ځواب یې ورکړ:

- سمه ده. قسم خورو چې هېڅ‌چا ته هم څه نه وایو او نه به بیا دلته راشو.

ولاړ کس وپوښتل:

- همدا قول او قسم دی؟

بهادر ځواب ورکړ:

- هو

همغه کس چې دوی یې را کوز کړي وو، دوی ته د تګ اشاره وکړه. خپله هم له شانه ورپسې شو. تر یو ځایه یې ورسول او بیا یې ورته وویل:

که شاته مو راکتلي وو او یا مو چاته د خپل راتګ او زموږ د لیدو کیسه کړې وه؛ نو په هر ځای کې چې وي، دلته مو راولو او بیا به هېڅ کله لاړ نه شی.

درې واړه په ګړندیو ګامونو روان شول. یو له بل سره یې خبرې نه کولې، رمه یې هم وړاندې تللې وه. رمې ته په رسېدو بهادر شاته وکتل، هېڅوک نه معلومېدل. داسې ورته ښکارېده لکه همدا اوس یې چې کوم خوب لیدلی وي.

عثمان او خالد سخت وېرېدلي وو؛ خو بهادر یو څه ډاډه ښکارېده. یو بل ته یې په وېره سترګې اړولې. ملګرو یې هېڅ هم نه ویل. د وزو او پسونو رمه د وړاندې غره په ډډه کې خوره وره وه.

له اوږدې چوپتیا وروسته ایله خالد خوله خلاصه کړه او

په ګیله من انداز یې دواړو ته وکتل او وویل:
- ما خو له اوله درته ویل چې هلته مو تګ ښه نه دی، ماته مې هر وخت انا جانې ویلي چې کنډوالو او هدیرو ته به نه ځې، ما نه منله. کله کله به تلم؛ خو اوس مې ومنله چې هغې رښتیا ویل.
هېڅوک هم ځواب ورنه کړ. اوږده شېبه پس عثمان وویل:
- اوس خو درې واړه جوړ او روغ یو. له پېریانو او بلاګانو وېرېدلو، دادي اخر مو ولیدل. هغه ورځ ملاصاحب ویل چې پېریان په هره قواره ځان جوړولی شي، دادي نن مو د خیرات ګرو او ملنګانو په جامه کې ولیدل. نور به هېڅکله هم هغې خواته ونه ګورم. دا ظالمان مو بل ځل داسې نه پرېږدي. د پېریانو کلی دی، خود به پېریان په کې ګرځي.
له دې خبرو وروسته دواړو بهادر ته د څه ویلو په تمه وکتل؛ خو هغه غلی و، په شونډو یې د خپګان او وېرې پر ځای پیکه موسکا خوره وه.
خالد د رمې خواته وکتل او بیا یې وویل:
- ماته یوه بله خبره را یاده شوه.
عثمان وپوښتل:
- کومه خبره؟
- ما ویل دا به د هغو کوترو ازار نه وي چې په سپرغه کې مو له ځالې وشړلې؟
بهادر له ځایه پاڅېده، د رمې په خوا ور روان شو. عثمان او خالد هم ورپسې پاڅېدل. له څو قدمه تګ وروسته بهادر هم په خبرو راغی او ویې ویل:

خالد رښتیا وایي. موږ د صحرایي شنو کوترو ازار په سترګو ولیده. که همدا کوترې پیریان وي، موږ خو نه پوهېږو. شکر دی چې څه یې راته ونه ویل. بیا باید داسې کوم بد کار ونه کړو. دا ځل مو داسې نه پرېږدي. حتمی مو بندي کوي.

عثمان وویل:

- بهادره! په دې اړه باید چاته څه ونه وایو؟

بهادر ځواب ورکړ:

د هغوی خبرې دې لکه چې هېرې شوې. موږ یې په همدې شرط خوشي کړو چې چاته به د خپل ورتګ او د دوی د لیدو په اړه له خولې نه یوه خبره هم نه باسو.

خالد وپوښتل:

- په خپلو کورونو کې هم چا ته څه ونه وایو؟

عثمان ځواب ورکړ:

- نه، هېڅ‌چا ته هم نه، هو، خو یو څوک باید پرې خبر کړو؟

- څوک؟

- د جومات ملاصاحب. هغه خو پېریان تړلی شي او پېریان ترې ډارېږي.

بهادر وخندل او ویې ویل:

- خالد زما د زړه خبره وکړه. اوس ما همدا خبره درته کوله، همداسې کوو. ماته یې بل څه هم معلوم شول.

عمثان وپوښتل:

- څه درته معلوم شول؟

- ماته د هغه یوه کس خبرې او سترګې د یوه داسې چا

ښکارېدې چې لـه خپـل پـلار سره مې زمـوږ په حجـره کې ډېر لېـدلی دی. کلـه کلـه زمـوږ د کوکنـارو پـه کرونـدو کې هـم زما لـه لالا دوی سره ګرځـي. د دواړو وروڅـو منـځ کې خدايي خال لـري. مـا چـې ورتـه مخامـخ وکتـل؛ نـو مخ يـې رانـه بلـې خـوا تـه تـاو کـړ. مـلا صاحب تـه بـه دا هـم ووايم. مـوږ خـو ورباندې ګـران يـو، يوازې مـو نـه پرېږدي.

د عثمان او خالـد پـه شونډو هـم له مـودو وروسـته د هيلې او خوښـۍ موسکا خـوره شـوه. درې واړه مـخ پـر وړانـدې روان شـول. بهادر د خـوړ لـه منځـه پـه رمه پسـې پـه اوچت غـږ ناره کـړه. غـږ يـې پـه خـوړ او لويـو کمرونـو کـې درې -څلـور انګازې وکـړې. درې واړه ووېرېـدل؛ خـو لـه يـوه بـل نـه يـې پـه سـترګو کـې د ولـې پوښـتنه وکړه:

- بهادر د عثمان په اوږه لاس تکيه کړ او ويې ويل:

- عثمانـه! اصلـي پېريـان همـدا دي چې زموږ پېښـې کوي؛ خـو ځـان نـه ښـکاروي، نـه مـوږ وېـروي. دوی پوهېـږي چـې ماشـومان خـو پـاک وي، بـد کارونه نه کـوي. نور نـو راځئ چې رمـه را ټولـه کـړو، د لمانځـه له قضـا کېدو وړاندې بايـد ټوله رمه کلي تـه ورسـوو. زمـا پـلار تـل پـه ناوختـه راتګ غوسـه کېږي.

مـلا فقيراللـه د ماسپښـين لـه لمانځـه وروسـته کـور تـه راغـی. لـه عـادت سره سـم يـې خپله کوچنـۍ لور طيبـه او زوی بدرالديـن چـې ماشـومانو بـه بـدر بالـه، ځانتـه را وبلـل چـې د تېـرو ورځـو سـبقونه ورسره تکرار کـړي او پـه کتابچـه کـې ورتـه نـوې کلمـې او جملـې وليکـي.

دا کار یې له تېرې یوې میاشتې راهیسې شروع کړی و؛ خو لیدل یې چې دواړه کوچني اولادونه یې چې عمرونه یې لسو کلونو ته نه وو رسېدلي، د سیپارې او دیني کتابونو ترڅنګ له لیک لوست سره هم ډېره مینه لري.

ملا فقیر د بدرالدین په کتابچه کې یوه کرښه په ډېره سختۍ او غټو تورو ولیکله؛ خو لا خلاصه نه وه چې طیبې ترې وپوښتل:

- کاکا دا څه شی دي؟

طیبې به خپل پلار ته د پلار یا ابا پر ځای کاکا ویل. دا یې د ماشومتوب نه عادت پاتې شوی و، ځکه خو ملا فقیرالله هم نه غوښتل چې څه ورته ووایي.

ځواب یې ورکړ:

- دې ته متل وایي، داسې ویل کېږي:

(که غر لوړ دی، په سر یې لار شته)

بدرالدین وویل:

ما خو ډېر داسې غرونه لیدلي چې په سر یې هېڅ لار نشته، یوازې ډبرې او ونې ورباندې ولاړې دي.

ملا فقیر وخندل، غوښتل یې د مانا په اړه یې ورته څه ووایي چې د دروازې ټک ټک واورېدل شو. بدرالدین له څه ویلو پرته منډه کړه او ځان یې د کلا دروازې ته ورساوه. له دروازې سره بهادر، عثمان او خالد ولاړ وو. بدر ورسره په خوشحالۍ ستړي مه شي وکړل او له ستړي مشي وروسته عثمان وپوښتل:

- ملاصاحب په کور کې دی؟

- هو، همدا اوس یې ما او طیبې ته سبق شرو( شروع) کړی، څه یې کوی؟

بهادر ځواب ورکړ:

- ورشه زموږ د ورتګ ورته ووایه، موږ هم په خپل سبق کې پوښتني لرو.

بدر د هو په دود سر وخوځاوه. دوی ته یې د رانونتلو اشاره وکړه او خپله په یوه منډه د خپل پلار تر کوټې ورسېده او پلار ته یې وویل:

- کاکا! د ملک صاحب زوی بهادر، عثمان او خالد راغلي، ستا پوښتنه یې کوله. د ننه راغلل.

ملا صاحب په ځای کې را نېغ شو. په شونډو یې موسکا خوره شوه او طیبې ته یې وکتل:



- هله لورې! بالښتونه سم کړه، ځای ورکړه چې کوچني مېلمانه را روان دي.

درې واړه رانتوتل. د ملاصاحب لاسونه یې ښکل کړل. له طیبې سره تر سترې مه شي وروسته د هغوی څنګ ته کېناستل.

ملاصاحب ترې د حال او احوال پوښتنه وکړه او ورته ویې ویل:

- بچیانو! لږ مخکې مې دلته په کتابچه کې یو څه ولیکل؛ خو بدرالدین زوی او طیبه لور مې پرې پوه نه شول. اوس به اول له تاسې دا سوال وکړم او بیا به نورې خبرې کوو. وبه ګورم چې څوک به سم ځواب راکړي.

بیا یې کتابچه را اوچته کړه او متل یې په لوړ غږ او شمېرلو الفاظو ولوست:

«که غر لوړ دی، په سر یې لار شته»

بهادر، خالد او عثمان لومړی د ملاصاحب د زوی او لور کتابچو او قلمونو ته وکتل او بیا یې د متل په اړه فکر پیل کړ؛ خو ملاصاحب بیا وویل:

- وخت کم دی، څوک یې په معنی پوهېږي؟

عثمان ځواب ورکړ:

- وایي چې په هر ډول غره کې لاره جوړېږي او لویې ډبرې یې مخه نه شي نیولی. لکه د ولسوالۍ بازار ته چې زموږ د کلي په غره لار اوښتې ده.

ملاصاحب وخندل او بیا یې بهادر ته د ځواب لپاره وکتل.

بهادر وویل:

- وایــي چــې غـر دې کـبر نـه کوي، هـر څومـره کـه لـوړ دی؛ خــو خلــک وربانــدې خېــژي او تــر پښــو لاندې کــوي یې.

بیا هم ټولو وخندل.

ملاصاحب خالد ته وویل:

- ته خو څه نه وایې زویه؟

خالد د توشکې له سره راوتلی تار کش کړ او ورو یې وویل:

- نه، پوه نه شوم.

ملاصاحب وویل:

- سـمه ده، زه به یې درته معنی کړم. د دې معنی داده چې هـره سـتونزه یوه د حـل لاره لري. موږ که له هرې سـتونزې سره مخامـخ کېـږو، بایـد ورتـه خپـه نـه شـو. خامخا یـوه ورځ لـه دغه سـتونزې نـه خلاصـون مومـو. هـر مشـکل د حـل لپـاره یـوه لاره هـم لـري. خـو پـه دې شرط چـې د خـدای پـه تـوکل سره فکـر وکـړو او زحمـت وباسـو. ځکـه وایـي چـې کـه غرونـه هـر څومره لـوړ هـم شي؛ نـو پـه سر یـې د اوښـتو یـوه لاره پیـدا کېـږي. دا خــو متــل دی او متلونــه د مشرانــو خــبرې دي. د مشرانــو خبرې د کاڼــي کرښــې وي. د کاڼــي کرښــې هېڅکلــه نــه ورانېږي.

ملاصاحـب خپـل زوی بدرالدیـن او طیبـې تـه چې پـه راغلو مېلمنــو کــې یې ســترګې ګنډلــې وې، وکتــل او وویل:

- هلــئ بچیانــو! مېلمنــو ته چای راوړئ. تاســې خــو له دوی وړانــدې کېناســتی. وروســته به نورې خــبرې کوو.

دواړه وشرمېـدل او لـه کوټـې پـه منـډه ووتـل. د دروازې پـه پـورې کېـدو ملاصاحب بهـادر ته وکتل او په ټیـت غږ یې وویل:

- بهـادر جانـه! اول خـو راتـه ووایـه چـې څه خبره خـو نه ده،

خیرت دی. ملک صاحب ښه و؟

بهادر خپلو ملګرو ته وکتل، په سترګو کې یې د خبرو اجازه ترې واخیسته او بیا یې ملاصاحب ته وویل:

- مور یو څه لیدلي دي.

ملاصاحب په ځای کې راسم شو:

- څه مو لیدلي، چېرته؟

- په زاړه کلي کې؟

- هلته ولې تللي وی، څه مو ولیدل؟

- پېریان

- پېریان، څه ډول وو؟

- پرون مو هلته رمه بېولې وه. هسې شیطان راته ویل چې راځئ د زاړه کلي کنډوالو ته ورشو. هلته چې ورغلو درې ځلور کسان د یوه دېوال څنګ ته په ژور ځای کې ناست وو. زړې جامې یې اغوستې وې، مخې ته یې اور بل و. تور سیخان یې په سکروټو ایښي وو، بد بویونه لګېدل.

ملاصاحب جدي شو او ویې پوښتل؟

- ښه، تاسې ونه پېژندل؟

- نه مخونه یې پټ وو، یوازې سترګې یې معلومېدې. مور یې ډېر وخت هلته درولي وو، وروسته یې راته وویل چې دلته که څوک راشي مور یې بندي کوو او یا یې په دې سکروټو دروو. خو تاسې ښه هلکان یاست، په دې شرط به مو خوشې کړو چې په دې اړه به چاته څه نه وایی او نه بیا دلته راځی. مور ترې وېرېدلي وو، ومو منله. وروسته پوه شوو چې هغه پېریان دي. مور ویل ته خو پېریان تړلی شې،

هغوی ولې موږ ته غوسه شول. که دا ځل په لاس ورشو؛ نو له ځان سره مو بندي کوي.

ملاصاحب اوږده ساه واخيسته او ځان يې راجوخت کړ:

- زويه مه وېرېږه، زه يې حتمي چاره کوم. يو دې هم ونه پېژانده، کومه نښه دې په ياد ده؟

بهادر ځواب ورکړ:

- د يوه سترګي راته داسې ښکاره شوې لکه چې ليدلی مې وي. د وروځو منځ کې يې خدايي خال و. يو وخت مې زموږ حجره کې ليدلی و. زموږ د کوکنارو په کروندو کې به يې هم کله کله کار کاوه او پزه به يې ترلې وه.

ملاصاحب وويل:

- ګورئ بچيانو! ښه مو وکړل چې ماته مو وويل. زه دا منم چې د زاړه کلي کنډوالې او سوړې درنې دي، يعني جنيات منيات په کې اوسېدلی شي. خو هغه کسان چې تاسې ليدلي، پېريان نه دي. هسې يې تاسې په دې نوم وېرولي يی. ما خو درته ويلي وو چې پېريان څوک ناحقه نه ځوروي او نه داسې چټل وي.

عثمان وپوښتل:

- نو هغوی څوک دي؟

- دوی پوډريان دي. زه له ډېر پخوا نه خبر وم چې په کليو کې ځينې داسې ځوانان پيدا شوي. دا ټول د کوکنارو د کرکيلې له برکته دي. څو ځله مې ستا پلار ته وويل چې د دې بد بوټي کرل حرام دي. هم ځان او هم نورو ته تاوان لري. بايد پاک کښت او دانې پرې وکرل شي.

بهادر وپوښتل:

- حرام دي؟

ملاصاحب ځواب ورکړ:

- هو زويه! له دې نه زهر او پوډر جوړېږي. ځوانان په بدبختيو اخته کوي. په هغه ځمکه او کلي د خدای پاک غضب ورېږي چې داسې بوټي په کې کرل کېږي.

درېيو واړو د لومړي ځل لپاره داسې خبره اورېده. خالد د ملاصاحب په خبرو کې ور ولوېده:

- ملاصاحب! پلار خو مې وايي چې د کوکنارو له بوټو دواګانې راوځي. زما کوچنۍ خور چې ډېر ژړل، پلار مې څو ځله د کوکنارو د غوټيو هغه تور درمل ورکړل او بيا تر سهاره غلې وه. مور مې هم ويل چې دې درملو ښه تاثير پرې کړی دی.

ملاصاحب ترخه خندا وکړه او درېيو واړو ته يې وکتل:

- نه، نه زويه، دا ګلونه له زهرو ډک دي. زموږ خلک خو له علم او قران لرې پاتې شوي. زما بېچاره خبره هم پرې تاثير نه لري. څو چې د کلي کروندې له دې بد بوټي خلاصې نه شي؛ نو د زاړه کلي ټولې کنډوالې به له هغه چټلو پېريانو چې تاسې ليدلي، ډکې شي او اصلي پېريان او دېوان به پاس غرونو او ځنګلونو ته تښتېدلي وي.

ملاصاحب لا خبرې کولې چې د کوټې دروازه خلاصه شوه. طيبه او بدرالدين د چايو له پتنوس او د توتو له ډک قاب سره را ننوتل. پيالې ډکې شوې او ملاصاحب وويل:

- ما پلان جوړ کړی چې له دې وروسته بايد يوازې د

جومات ملا نه وم. غواړم چې معلم هم شم. له ملک کاکا او ټولو سره ګورم چې تاسې ته يو صنف جوړ کړم. که د کلي لويان وغواړي هم نو ورته راتللی شي. خو چې د کلي مشران راسره کمک ونه کړي، دا کار نه شم کولی.

له دې خبرو وروسته يې خپله پياله په تاخچه کې کېښوده او درې واړو ته يې وويل:

- الله تعالی مهربانه دی. انسان خپلو پاکو مقاصدو ته هر وخت رسېږي. نېکه اراده پښېماني او ناکامي نه لري. نن به په ګډه زما له زوی او لورجانې سره تاسې هم د قلم او کتابچې سبق ووايی. که مو خوښ شو؛ نو هر وخت راتللی شی. الفبا خو مو هسې هم په سيپارو کې زده‌کړې ده.

د ماشومانو لپاره د کلي ژمی که هر څومره يخ او په بهر کې د ګرځېدو او ساعتېريو لپاره د نورو فصلونو په پرتله محدود وي؛ خو له ځان سره خوندونه او داسې ساعتونه هم لري چې ماشومان يې نهه مياشتې په انتظار وي.

د پېريانو کلي غرونه او نږدې غونډۍ خو بيا هم هسې د واورو په ورېدو سره رنګينې او د ماشومانو د ساعتېريو لپاره جوړې وې. د کلي ماشومان به د جومات له سبق نه تر رخصتېدو او د لمر په تودېدو سره غونډيو او د غرونو لمنو ته تلل او بيا به يې د يخمالک او سوجرو لپاره ښه ډېر وخت درلود.

د ژمي په ورځو کې به دوی د مالونو او رمو څرولو او يا په کروندو کې د کار او واښو راوړلو نه ښه بېغمه وو. د کور

تاوخونـې او تبـې بـه گرمـې وې. ډېـرو کمـو کورونـو بـه د ژمـي لپـاره لانـدې او د وربښـت پـه ورځـو کـې کوچـې(ځانگړي خواړه) نه درلـودل.

دا ژمـی د بهـادر، عثمان، سـپین گل، خالـد او د هغـه د څـو نـورو ملگـرو لپـاره عجیبـه و. د دوی پـه فکرونـو کـې راغلی بدلـون او لـه مـلا فقیراللـه نـه د لیـک لوسـت پـه برخـه کـې د نـوو شـیانو زده کـړې؛ دوی پـه کتـاب او قلـم لا مین کـړي وو او د کلي ځینـې ناسـم او کاږه رواجونـه، ویـره او تتـه راتلونکې یې حس کـولی شـوای.

د ژمـي پـه همداسـې یـوه سـهار بهـادر لـه خپـل کـور نـه د وړانـدې غونـډۍ خواتـه روان شـو. نجونـو او ماشـومانو شـور ماشـور جـوړ کـړی و. د ژمـي لمـر د واورو لـه پاسـه عجیبـه ځلا درلـوده. د غونـډۍ لـه پاسـه پـه پلاسـتیکي ټوټـو او وسـپنیزو شـیانو را سـپرېدل او تـر لانـدې خـوړ پـورې بـه د غـشي پـه څېر روان وو. دا لوبـه بـه تـر غرمـې پـورې روانـه وه. خـو چـې کلـه به هـوا راگرمـه شـوه؛ نو واوره به هـم خوړینه وه او د ماشـومانو لوبه بـه یـې نیمگړې پرېښـوده. بیا به نـو د توپونو ویشـتلو او له واورو رالوڅـو شـوو پسـتو رېگونـو کـې د خـوسي او تـوپ ډنـډې لوبـه کېـده چـې د کلي وزگارو لویانـو بـه هـم تـرې خوند اخیسـت او کلـه کلـه بـه یې پـه کې ونـډه اخیسـته.

بهادر د ماشـومانو ډلې ته ور ورسـېد. پـه عثمان یې سـترگې ولگېـدې. د ډېرې څنگ ته غلی ناسـت و او د ماشـومانو ننداره یـې کولـه. دی یـې څنـگ تـه ورغی. د سـترې مـه شي لاس یې ورکـړ او ترې ویې پوښـتل:

- پرون ولې نه وې راغلی او ولې خپه ښکارې؟
عثمان ځواب ورکړ:
- هسې، پلار مې ناروغ و. له هغه سره پاتې شوم.
- ناروغ و؟
- هو خو کومه سخته ناروغي نه ده. مور مې ویل چې له بازاره یې د سودا لوی پنډ په شا راوړی. یخ او ګرم شوی. هوا ور رسېدلې، ژر به روغ شي.
بهادر غلی شو او بیا یې وویل:
- زه نه وم خبر، که نه پوښتنې ته درتلم؛ خو غواړم چې اوس یې پوښتنه وکړم. که دې خوښه وي له لوبو به تېر شو او له هغه سره به خبرې وکړو.
عثمان ځواب ورکړ:
- زما په زړه خبره دې وکړه. زه هم نور کور ته روان وم. راځه چې ځو. خو خالد ته به هم غږ وکړم، اوس به تود چای هم تیار وي.
دواړه پاځېدل. خالد یې هم له لوبو را جلا کړ او د عثمان دوی د کلا په لور روان شول. د هغه پلار نېک محمد نومېده او په کلي کې په مامور هم مشهور و. د ښار په اړه یې د ځوانۍ خوږې کیسې په یاد وې چې بهادر ته به یې هر ځل اورېدو خوند ورکاوه.
له شل دقیقې مزل وروسته د عثمان دوی کور ته ورسېدل. کوټې ته ننوتل، پلار یې د تبۍ په سر اوږد غزېدلې و او راډیو یې اورېده.
دواړو سلام وکړ. نېک محمد له ځایه را پاڅېد. له دواړو

سره یې تاوده سترې مه شي وکړل. راډیویې بنده کړه او دوی ته یې وکتل:

- په دې راډیو کې مې خبرونه اورېدل. هغه بله ورځ مې د ولسوالۍ په بازار کې واخیسته. نور به مو له هرې خبرې خبروم. ډېر ګټور شی ده، سړی له هر څه نه خبروي. خو اوس ستاسې په راتګ تر هر څه زیات خوشحاله شوم.

د عثمان مور رانږوته او ویې ویل:

- سترګې مې روښانه، واړه مېلمانه راغلي. دواړو د هغې لاسونه ښکل کړل او په خپلو ځایونو له کېناستو وروسته عثمان خپلې مور او پلار ته وکتل:

بهادر او عثمان زما د اغا پوښتنې ته راغلي.

نېک محمد د بهادر په اوږه لاس کېښود او ویې ویل:

- بهادر جان او خالد جان خو نام خدا زموږ د کلي ګلان دي. که موږ د ښار او یا ولسوالیو ته د نږدې سیمو په څېر مکتبونه درلودی، بیا به مو د دوی ورتیا لیدلې وای. د کلي ملاصاحب هم تل د دوی او زموږ د عثمان جان صفتونه کوي.

خالد وپوښتل:

- کاکا ناروغي دې څه وه؟

نېک محمد کاکا وټوخېده او ویې ویل:

- زویه! ان له ولسوالۍ نه مې د سودا درونډ پنډ په شا راوړی. اوس خو لارې واورو بندې کړې، نه بایسکل ځي او نه هم «لرې دې له مخې» خر. څو ساعته مې مزل وکړ، یخ او تود شوم. دا زموږ ټولو بدبختي ده. که سړک وی، کوم لاری

او يا بل رقم موټر مو درلودی؛ نو اوس به هر څه سم وو.
بهادر وپوښتل:
- هو کاکا! خو تر کله به مو دا حال وي. د پېريانو کلي هر اوسېدونکی دا ستونزه لري. يو ځل خو نه دی، سبا به بيا ورته اړ کېږو او ټول ژمی به مو همدا حال وي.
نېک محمد وخندل:
هر وخت چې ستا پلار ملک صاحب وغواړي او کليوال په کلکه تصميم ونيسي، زه باور لرم چې هر کس حاضر دی د لارې او سړک جوړېدو ته له خپلې يوې لوېشتې ځمکې نه ور تېر شي.
ټولو وخندل.
يوه شېبه چوپتيا وه؛ خو وروسته نېک محمد کاکا په سړه سينه وويل:
- هو زويه! دا زموږ يوه مهمه او حياتي اړتيا ده. څو نسلونه همدې سختيو وخوړل. که موږ د خپل ژوند او کلي د بڼې بدلولو او د خپلو اولادونو د ښه راتلونکي لپاره کار ونه کړو، په همدې شته سختيو قناعت وکړو؛ نو ډېر نور کلونه به هم په همدې ډول تېر شي. په موږ تېره شوه؛ خو تاسې بايد زموږ په څېر لوی نه شی.
زه چې د ښار له ژونده راستون شوم او بېرته مې د خپل خدای بښلي پلار په خوښه په کلي کې ژوند پيل کړ؛ نو ډېر پلانونه مې لرل. کلي ته سم او با معنی نوم، يو ساده سړک، کوچنی مکتب، يو کلينيک ملينک او له نورو کليو سره ښې اړيکې، ستا د ترونو او ملک صاحب په خلا کول او نور

زما ارمانونه وو. خو کله مې چې له کليوالو، ملک صاحب او نورو مصلحو اشخاصو سره شريک کړل؛ نو خوند يې ورنه کړ. زه ورته ښاري شوی ښکاره شوم. ما چې وليدل څوک مې ملاتړ نه کوي او په يوازې ځان څه نه شم کولی؛ نو دا ټول فکرونه مې له سره وايستل. ما ويل چې پلار او نيکه مې دا ژوند وکړ، زه به يې هم تېر کړم.

بهادر، عثمان او خالد د هغه خبرو ته په دقيق ډول غوږ نيولی و، لکه د دوی د زړه خبرې چې کوي. نېک محمد د چايو له پيالې يو غوړپ وکړ او بيا يې وويل:

- ما چې هغه مهال په ښار کې ښاري هلکان ليدلي وو، لياقت او پوهه يې زموږ د کلي د هلکانو او نجونو نيمايي ته هم نه رسېده. خو کورنيو يې دې ته کار ويلی و چې خپل بچيان به ښه روزي، مکتب و جومات ته به يې استوي او په کورونو کې به هم پرې سبق وايي. ځکه يې داسې حد ته رسولي وو چې زما په څېر لويانو ورسره خبرې او دليلونه نه شوی ويلی.

وايي د لمدې خټې لړ اوبه دارو وي. که زموږ د کلي ماشومان مکتب او دومره کتابونه ولري؛ نو په ايمان درته وايم چې له دوی به پوه کسان هم نه وي. هېڅوک به هم لوړې نومرې ترې وانه خلي. د کار او قلم خاوندان به شي.

نېک محمد يوه شېبه غلی شو، په تندي يې لاس را تېر کړ او خپلې خبرې يې وغځولې:

- بدبختانه چې د دوی عمر په کلي کې په شپنی، درنو کارونو، کرکيلې او داسې کارونو تېرېږي چې د راتلونکې لپاره

یې هېڅ په درد نه خوري. کورنۍ یې هم هسې له سترګو چپوي او مصروف یې ساتي. دوی به ځنګه د کلي په وضعیت کې بدلون راولي. خدای دې فضل وکړي، زما په خپل پاتې عمر کې پوره کوښښ کوم چې تاسې یو داسې کلی ولرئ چې زه یې غواړم.

د نېک محمد کاکا سترګې نیمې سره ورغلې وې او خبرې یې روانې وې. بهادر، عثمان او خالد هره شېبه داسې حس کوله لکه یو څوک چې د دوی د زړونو هیلې بیانوي. دوی پوهېدل چې په ناروغۍ کې نېک محمد کاکا ته دومره خبرې ښې نه دي، ځکه خو بهادر د هغه په خبرو کې ور ولوېد:



- کاکا! زه اوس دومره پوه شوم چې زموږ ښه راتلونکی او ښه نوم له مکتب او زده کړې سره تړلی دی. زه مې چې اوس د ملګرو او د پلار وضعیت ته ګورم، داسې راته ښکاري چې خدای پاک به مو دا ارمان پوره کړي. هغه او اوسني وخت بدلون کړی. ته، ملاصاحب او ځو نور مشران همدا خبرې ورسره شریکې کړئ، هېڅوک هم دا نه شي ویلی چې تعلیم بد شی دی.

نېک محمد وخندل او ویې ویل:

- حتمي زویه! ستاسې لپاره به لس ځله دا کار وکړم. تاسې ته مې د لویانو غوندې خبرې وکړې؛ خو دا زما د زړه غوټه وه، خلاصه مې کړه. اوس درته د تعلیم د اهمیت په اړه خپل یو مثال بیانوم. هم کیسه ده هم پند، وایې ورئ.

- زما نیکه دې خدای پاک غرق رحمت کړي، د خپل وخت خان و. ځمکې او شته یې لرل؛ خو دا ټول یې په قلم ګټلي وو. سبق یې ویلی و، په ښار کې کاتب شو، عریضې او مکتوبونه یې لیکل. هم یې نوم پیدا کړ، په پیسو یې ډېرې ځمکې واخیستې. میاشت کې به دوه ځله کلي ته راته، بیا به یو ځل په خپل ساتلي اس د ښکار لپاره غره ته تللو. له غرونو او د غرونو له پاکې هوا سره یې ډېره جوړه وه. زما پلار ته یې هم یو ځو ټکي درس ویلی و. رقعې یې لوستلی شوای.

یوه ورځ یې ټوپک ورسره واخیست، په خپل نازولي اس یې پښه واړوله او ښکار ته روان شو. معمولاً به له ماسپښین وروسته ناوخته بېرته له ښکار سره راستنېده. کله هم خالي

لاس نـه و راغـلی. خـو پـه دې ورځ تـر مازديگـره را نـه غـی. ترماښـامه ورتـه انتظـار وو، بيـا يـې هـم درک ونـه شـو.

لـه وېـرې مو ټوله شـپه په ويښـه تېـره کړه. شـاوخوا مو خلک واسـتول؛ خـو درک يـې ونـه شـو. سـهار نـږدې کېـده چـې پـه دروازه کـې يـې اس وششـنېده. زه او پـلار مـې پـه بيـړه ور ووتو. گـورو چـې اس سـتړی او ترهېـدلی ولاړ دی؛ خـو څـوک ورسره نشـته. پـلار مـې اس را د ننـه کـړ او خپلـه بـام تـه وخـوت. لارو تـه يـې کتـل؛ خـو پـه دې وخـت کـې زمـا پـام شـو چـې د اس د غـاړې پـه رسـۍ کـې يـو کاغـذ پېچـل شـوی. ور لنـډ شـوم. وړوکـی څلـور کونجـه کاغـذ و. را خـلاص مـې کـړ او پـاس مـې پـلار تـه ور اوچـت کـړ.

هغـه چـې وکـوت؛ نـو وارخطا شـو، رنگ يـې والـوت. ويل يې چـې بابـا دې چېرتـه لـه اس نـه لوېدلی. پـه دې کاغـذ کې يې د خپلـو لوېـدو او ځـای پتـه ليکلـې. زر بايـد ورپسـې روان شـو. پـلار مـې کاکا او څـو نور کليـوال خبر کړل، ورپسـې لاړو. غرمه مهـال يـې هلتـه پيـدا کـړ. د لارې څنـگ ته په خـاورو کې پروت و. لـه يـوه کمـره را لوېـدلی و، پښـه او ملا يې مـات وو. دلته يې پـه ډېـر زحمـت را وړو. دوې شـپې ورځـې ژوندی و، وروسـته مړ شـو. ټـول سـخت خپـه او پرېشـانه وو. سـختې ورځـې رابانـدې راغلـې، ان تـر دې چـې پـلار مـې ډېرې ځمکې بېرتـه خرڅې کړې.

بابـا مـې دې خدای پاک وبښـي. خو که پـه خط نه پوهېدی او زمـا پـلار ليـک نـه شـوی لوسـتلی؛ نـو د هغـه مړی بـه مو هم نـه و مونـدلی. د لوسـتو خلکـو سره حيوانات هم مينـه لري. زما

د بابا اس ډېر وخت وانښه نه خوړل او په هغه پسې خپه و.

درې واړه هلکان د کيسې له اورېدو وروسته خوښ ښکارېدل. شپېبه پس بهادر او خالد له ځايه پاڅېدله، له نېک محمد او خپل ملګري عثمان سره يې مخه ښه وکړه او د هغوی له کوره ووتل.

د ژمي يخې شپې او ورځې تېرې شوې وې. د پسرلي راتګ له پېريانو کلي د ګلونو ګلدان جوړ کړی و. هر څه شنه وو. تللي مرغان بېرته ورځ په ورځ را ستنېدل. په غونډيو او دښتو د غاټول ګلانو سور شال غوړولی و. په خوړونو او لښتيو کې د چينو او باران اوبه بهېدې. د کليوالو او کوچيانو د رمو ګونګريو په غرونو کې عجيبه خوند درلود.

د نارينه وو ترمنځ به کله کله ښځې هم په پټيو کې په کار لګيا وې. دا ورځې د بهادر او د هغه د ملګرو لپاره ډېرې له خوند او سيلونو ډکې وې؛ خو ورسره يو بل انتظار يو څه ځورونکی و.

پلار يې ملک شاه مير ويل چې په دې ورځو کې يې له ښاره ځينې دوستان کلي ته د څو ورځو لپاره د سيل او چکر لپاره راځي؛ خو ورځ يې معلومه نه وه. هره ورځ به يې خپل يو کس د ولسوالۍ تر بازاره استاوه چې له هغه ځايه يې مېلمانه په غرنۍ لاره تر کلي راولي.

بهادر او عثمان يوه ورځ د غره په ډډه کې له لښتي نه پاس اېښودل شوو نيالګيو ته اوبه ور اوچتولې چې وړاندې په لاره د څو کسانو يوه ډله را ښکاره شوه. پلار يې د ټولو

مخکـې را روان و. دواړه ځـای پـر ځـای ودرېدل. ډلـه ورو ورو را نـږدې کېـده. شـېبه پـس یـې ولیـدل چې درې نا اشـنا کسـان او ورسره د دوی پـه عمـر دوه هلـکان او دوې وړې نجونـې دې خواتـه را روان دي.

بهادر عثمان ته وکتل او ویې ویل:

- لکـه چـې زمـا د پـلار مېلمانـه راغلـل، خپلـه هـم ورسره را روان دی. لالا دوی مـې هـم ورسره دي. هغـه څـو نـور بـه هـم زمـوږ کلیـوال وي.

دوی ته پـه رانږدې کېدو سره دواړه ور ښکته شول. له مېلمنو سره یـې سـتړي مـه شي وکـړل. ملک شـاه مـیر ورتـه وویل چې دا مـې تـر ټولـو کـشر زوی بهـادر خـان او دا بـل عثـمان جـان د نېـک محمد خان زوی دی. دوی دواړه له مکتب او قلم پرته بلـه خـبره نـه لـري؛ خـو زه ورتـه وایم چـې مـوږ چېرتـه او مکتب چېرتـه. دا خـو څه ښـار نـه دی.

مېلمـه وخنـدل. دواړه یـې پـه تندیـو ښـکل کـړل. هلکانو ته یـې هـم لاسـونه ورکـړل. یـوه د پاخه عمـر خاونـد وویل:

- شـاباس بچیانـو! مـا چـې ولیـدی چـې ونـو تـه اوبـه ور خېـژوی؛ نـو له واره راته ګران شـوی. سـتاسـې کلی چې داسـې شـین او سمسـور دی او مـوږ یـې لـه ښـاره لیـدو ته راغلـو؛ نو دا سـتاسـې لـه برکتـه دی. خـدای پـاک دې تل همداسـې زرغون لـري. بیـا یـې ورسره راغلـو ماشـومانو تـه اشـاره وکړه:

دا یـو زمـا زوی نوید جـان دی. هغه بل مـې وراره وحید دی. دا دوې مـې خورځـې دي، ځـلا او حسـنا نومېږي. یوه بل کس تـه یـې اشـاره وکړه: دا نصیرخـان یې پـلار دی او دا درېیم کس

هـم زمـوږ ملگری دی؛ شـاه محمـود نومېږي. که ستاسـې کلی نـږدې وی او سـړک يـې درلـودی، اوس بـه مو شـمېر تر دې هم زيـات و. د نويـد جـان مور به هـم راسره وه.

ټولـو وخنـدل. پـه تنديـو يـې خولـې راماتـې وې. بېرتـه يـې حرکـت وکـړ. بهـادر پـه ټيـټ غـږ وپوښـتل:

- کاکا! تا خو خپل نوم راته ونه ښوده؟

راغـلي مېلمـه يې خبره سـمه وانـه ورېده؛ خو ملک شـاه مير ورته غوسـه شـو او ويې ويل:

- له مشرانو څوک داسې پوښتنه کوي بې ادبه؟

مېلمه تم شو او ملک ته يې وکتل:

- ملـک صاحـب! دا کار بـه هېـڅ وخـت نـه کوې. بيـا چې زه وم نـو هېـڅ اجـازه نـه لـرې. ماشـوم د هـرې خـبرې او پوښـتنې حـق لـري. له دوی سره داسـې تېـز چلند به د هغـوی راتلونکې تـه ډېـر خطرنـاک وي. ده څـه وويل؟

يوه بل کس ځواب ورکړ:

- ډاکټر صاحب ستا د نوم په اړه يې پوښتنه کوله.

مېلمه وخندل او بهادر يې په تندي ښکل کړ:

- افريـن بچيـه! مـا نـور در وپېژنـدل؛ خـو خپـل ځـان رانـه هېـر و. دادي يـوه کليـوال هلـک زمـا تېروتنـه پيدا کـړه. زما نوم ډاکټـر گل محمـد دی. پـه همداسـې کلي کـې لوی شـوی يم؛ خـو قسـمت او سـبقونو د ښـار کـړم. اوس خو کلي ټـول د ملک صاحـب غونـدې شـتمنو تـه پاتـې دي. مـوږ غريبـان پـه کـې څـوک چېرتـه پرېږدي.

پـه دې خـبره ټولـو وخنـدل او د ملک شـاه مـير د کلا خواته

روان شول.

له څو ساعتونو وروسته نويد، وحيد، ځلا او حسنا د کلي له ماشومانو په ځانګړي ډول له بهادر، غوټۍ، عثمان، خالد او سپين ګل سره دومره بلد شول چې تا به ويل کلونه يې په کلي کې يو ځای سره تېر کړي دي. يوازې د چايو او ډوډۍ وخت به يې کور کې و، نور يې باغونو او غونډيو کې لوبې کولې. مېلمنو ماشومانو به مرغانو او شاپرکو پسې منډې وهلې او کله کله به يې د ونو له شنو پاڼو او ګلونو ځانګې ماتولې.

د تالندې او باران له غږ سره به بېرته مخ په کلا را روان وو او يا به د توتانو او مڼو تر لويو ونو لاندې پټ شول. د ملک مېلمانه به د هغه په ځمکو او باغونو ګرځېدل. د کلي خلک له دې هم خبر وو چې له ملک صاحب کره يو ډاکټر راغلی. د درملو ډک بکس يې ورسره راوړی دی، د ملک په حجره کې ناروغان ګوري او خوشې درمل ورکوي.

يو سهار چې لمر راختلی و، عثمان له کوره راووت. د بهادر دوی له کلا سره نږدې يې ځانګړی شپيلک وکړ. دا به د بهادر د راوتلو لپاره د هغوی ځانګړې اشاره وه؛ خو څوک را ونه وتل. وروسته يې پام شو چې بهادر، غوټۍ او سپين ګل له مېلمنو ماشومانو سره وړاندې د مڼو په باغ کې ساعتېري کوي. په منډه ورغی. بهادر او نويد د يوې ونې څنګ ته ولاړ وو. نويد د مڼې يوه شنه ځانګه را پرې کړه، له سپينو ګلونو ډکه وه. بهادر ورته وويل:

- دا کار مه کوه. د شنو څانگو ماتول اوبال لري. نه گورې چې د هر گل له ښخه یوه منه راوځي؟

نوید ماته شوې څانگه تر شا ونیوه او بهادر ته یې وویل:

- تا دا خبره چېرته زده کړې، له معلم نه که د مکتب کوم کتاب کې دې ویلې؟

د بهادر پر ځای عثمان ځواب ورکړ:

په دې خو هرڅوک پوهېږي. مور معلم او مکتب نه لرو. دلته نه معلم شته نه مکتب.

نوید په تعجب سره وپوښتل:

- نشته، بیا نو تاسې دا شیان له کوم ځایه زده کوئ؟ ما خو ستاسې د حجرې په تاخچه کې یوه کتابچه او مات قلم هم ونه لیدل.

بهادر ورته وویل:

- مور مکتب نه لرو. د کلي ملاصاحب دا هر څه را ښودلي. مور چې په څه شي پوه نه شو، له هغه نه پوښتنه کوو. په کتابچه کې الف او ب او د خپلو نومونو لیکل هم هغه را ښودلي دي.

په دې وخت کې وحید، حسنا او غوټۍ هم د دوی څنگ ته راغلل او خبرو ته یې غوږ شول.

عثمان وپوښتل:

- د مکتب په کتابونو کې هم دا خبرې راغلې دي؟

نوید په خندا وحید او حسنا ته وکتل او بیا یې وویل:

- هو! د مکتب په کتابونو کې ډېرې خبرې شته. په ښار کې خو هر څوک خپل مکتب لري. زمور مکتب خو تېر کال

تر ۱۲ ټولګي پورې شو. زه او نوید به سر کال شپږم ټولګي ته لاړ شو. هلته نجونې هم مکتب وايي. د دوی مکتب له موږ نه بېل دی. تر ۱۲ بجو هلته سبق وايو، بیا په کور کې کتابونه ګورو، راکړې دندې اجرا کوو. معلم هم د پلار په څېر مهربانه وي.

غوټۍ وپوښتل:

- تاسې جومات ته نه ځئ، ملا صاحب مو شته؟

نوید ځواب ورکړ:

- هو، جومات ته هم ځو؛ خو ملاصاحب فقط سیپاره او قران شریف راته وايي. د مکتب په کتابونو کار نه لري. خو تاسې ته ولې مکتب نه جوړوئ؟

عثمان وپوښتل:

- څوک یې جوړ کړي؟

- پلرونه مو. دا خو لوی کلی دی. له ماشومانو به یې یو مکتب ډک شي. پلار ته مو ووایئ. را دې راشي او له ښاره دې ورته کتابونه راوړي. موږ به هم خپل اضافه کتابونه ورکړو.

دوی خبرې کولې چې ملک شاه میر له خپلو مېلمنو، ملا فقیرالله او د عثمان له پلار نېک محمد سره د باغ له وړاندې څنډې را ښکاره شو. ونو ته یې اشارې کولې او په خبرو خبرو کې تر دوی را ورسېدل.

ډاکټر ګل محمد د ماشومانو په لیدو خوښ شو او په خپل زوی یې غږ وکړ:

- نویدجانه! په څه مو خبرې کولې؟

هغه ماته څانګه پر ځمکه وغورځوله، وړاندې ورغی. د

پلار لاس يې ونيوه او ويې ويل:

- پلاره! دوی خو تر اوسه هم په کلي کې مکتب نه لري. ولې دوی ته مکتب نه جوړوي؟ زموږ په کور کې خو اضافي کتابونه ډېر دي، درسره راوړي به دې وو.

ټولو وخندل، پلار يې د ځواب پر ځای ملک شاه مير ته وکتل:

- ملک صاحب او ملاصاحب! ګورې چې دوی هم زما بېګانې خبره درته تکرار کړه. دادي له نويد جان سره ستاسې د ماشومانو غم دی. ملکي به دې هلته ومنم چې د پېريانو کلي ته يو مکتب او سړک هم جوړ کړې. نور نو بس پاچا يې پاچا.

بل مېلمه نصيرخان يې په خبرو کې ور ولوېده: يو څه دي هېر شول لالا.

- څه ؟

- کوکنار

ډاکټر ګل محمد بيا وخندل:

- هو، هو خو داسې مه وايه چې ملک صاحب په دې بوټي دښمني کوي. سبا به يې ملکي او خاني خرابه وي، که نه خبره خو دي بېخي پر ځای ده. زموږ ښاريانو خو په وطني غنمو او اوړو پسې سترګې راووتې؛ خو دي ظالمانو ورته شا کړې او زموږ غم نه کوي.

ملک شاه مير په خندا شو، نېک محمد ته يې مخامخ وکتل او ويې ويل:

- ستاسې خبرې پر ځای دي. دا خبره ملاصاحب فقير او

نېک محمد خان هم څو ځله تر غوږ را تېره کړې؛ خو زموږ لاس بې وسې تړلي. خدای پاک مهربانه دی، ګورو به چې څه کېږي.

ډاکټر د ونې په ډډه لاس تکیه کړ او ویې ویل:

- بیشکه چې الله تعالی مهربانه دی؛ خو راځئ، را میدان ته شئ. په نېک کار کې باید ځنډ ونه شي. د خپلو ماشومانو ارمانونه پوره کړئ. هغوی به ستاسې ارمان پوره کړي. بس دی دومره محرومیت. ښار کې د یو څو ورځو زحمت او منډو خبره ده. دومره سخت کار نه دی چې ودې نه شي. مکتب خو ستاسې د اطفالو د کار مخنیوی نه کوي. کار به هم کوي او یو څه به یې زده هم شي. د رب تعالی رضا به بېله له موږ سره وي، څنګه ملا صاحب!

ملاصاحب ځواب ورکړ:

- هو ډاکټر صاحب! ملک صاحب ته دې خدای پاک اجرونه ورکړي، ټل یې زموږ کلیوالو د خیر ښېګڼې لپاره کار کړی دی. په دې برخه کې هم ما او نېک محمد خان ورسره مشورې او خبرې کړې دي. که خدای کول د خپلو اطفالو دا ارمان به پوره کوو، په موږ حق لري.

وروسته نېک محمد وویل:

- زموږ ماشومان ډېر لایق دي؛ خو موږ هېر کړي دي. که حکومت ته د مکتب او سړک عریضه ورکړو او پسې وګرځو، دا کار حتمي امکان لري. تر څو به خپلو اطفالو ته بې ځوابه وو. دا خو اوس له نورو سره د سیالۍ او شریکۍ موضوع ده. زه ورته دا پاتې ټول عمر وقف کولی شم.

ملک شاه میر وویل:

- زما چې څه په وس پوره وي، نه يې درېغوم. خو که رښتیا درته ووایم د بهادر جان زوی او عثمان جان بیا بیا پوښتنو او واسطو هم ستړی کړی یم. بېگاه ته به ستا په مخکې ټول کلیوال راټول کړم او په دې اړه به یو تصمیم ونیسو. خو په ښار کې به کارونه تاسې راته کوئ. زه د دې مامورینو په ژبه سم نه پوهېږم او نه مې ډېر گرځېدل خوښېږي.

ټولو وخندل، هلکانو یو بل ته په خوښۍ سترگې ور واړولې. دوی د منو په باغ کې په گرځېدو او د مېوو په اړه په خبرو بوخت وو چې د تالندې غږ شو. شېبه وروسته ورېځې بیا سره گنې شوې. میده میده باران پیل شو او ټول د ملک د حجرې په لور روان شول.

د پېریانو کلي د هلکانو دا پسرلی په غرونو او باغونو کې د مېلو او ساعتېریو ترڅنگ په ښو خبرونو سره پیل شوی و. بهادر دې ته سخت خوښ و چې څنگه يې د پلار په فکر کې دومره لوی بدلون راغلی دی. دی یوازې دومره پوهېده چې د هغه د ملگري ډاکټر گل محمد سره د ده ټینگه ملگري د دې سبب شوې چې د کلي د ښوونځي، سړک او له کوکنارو نه د ځمکو د خلاصون خبرې ورسره ومني.

یوه ورځ خو د جومات ملاصاحب دا هم ورته ویلي وو چې ډېر ژر به د کلي د هلکانو خوبونه په رښتیا بدل شي. هغه دا هم ویل چې د کلي د مشرانو څو ناستې ډېرې گټورې وې. ډاکټر او ملگري يې هم څو ځله له ښاري مېلمنو سره کلي

تـه راغلـل او ولاړل. هرځـل يـې کليوالـو ښـه هـرکلی او مېلمـه پالنـه کوله.

پـه دې ناسـتو کـې مـلا فقيرالله، د عثمان پـلار نېک محمد او تـره يـې خـير محمـد ډېـر سـتړي او لالهانـده وو. خيرمحمـد دې کار تـه تـر نـورو ډېـر خوشـحاله و او ژمنـه يـې کـړې وه چې کـه دا کار وشي؛ نـو حـاضر دی چـې لـه ښـاره کلي تـه راشي او ماشـومانو تـه درس ووايي.

يـوه ورځ عثـمان او بهـادر پـه خپلـو پټيـو کې لـه مشرانو سره پـه کار لګيـا وو چـې د مـلا فقيراللـه زوی او د دوی همـزولی بدرالديـن ورپسـې سـتړی سـتومانه راغـی، ورتـه ويـې ويل چې دواړه مـې پـلار جومـات تـه غوښـتي يی.

عثـمان او بهـادر پوهېـدل چې څه خبره بـه وي. په يوه بهانه يـې ځـان لـه کارونـو خلاص کـړ او له بـدر سره د جومـات خواته ولاړل. هغـوی پوهېـدل چـې بيـا هـم کـوم ښـکلی زېـری دی. د جومـات پـه بېرونـۍ برخـه کـې مـلا فقيراللـه، نېـک محمـد، يـو بـل کـس چـې د دې کلي نـه و؛ لـه څـو نـور ماشـومانو سره ناسـت وو.

ملا صاحب د دوی په ليدو موسک شو او ويې ويل:

لکـه چـې لـه کرکيلـې او شـپنۍ مـو زړه نـه کېـږي؟ لـه دې مېلمـه سره سـتړي مه شي وکړئ. دا سـړی به زمـوږ کلي ته ډېر خدمتونـه وکـړي. تـر هغـو يې نه پرېـږدو چې د سـړک او مکتب ځښـتنان مـو نـه کـړي. مـا ورتـه ويلي چـې دا هـر څـه د بهادر، عثـمان، خالـد، غوټـۍ، سـپين ګل او پېريانـو کلي د ډېـرو نورو ماشـومانو د غوښـتنو او هيلـو نتيجه ده چې زمـوږ په کلي د الله

پاک ستر مرحمت کېږي.

ټولو له خوښۍ وخندل او بیا ملاصاحب وویل:

سبا ته د غونډۍ په باغ کې لویه جلسه جوړېږي. نور مېلمانه هم راځي. ستاسې یو لوی ارمان پوره کېږي. تاسې به همدا اوس دا او نور هلکان درسره کړئ. باغ او شاوخوا لارې به سمې پاکې کړئ. موږ به هم وو. هلته وړاندې میداني کې نقشه اچوو. نن به د کور او کروندې ټول کارونه پرېږدئ، بس همدا به مو وظیفه وي.

بهادر ناستو ماشومانو ته وکتل، د ټولو په شونډو موسکا او خوښي خوره وه. په سترګو کې یې د ملاصاحب د امر پرځای کولو ځواب ورکړ. ټول پاڅېدل؛ خو ملاصاحب بیا وربانديې غږ کړ:

- ګورئ زامنو! ستاسې د یوه بل کار غمه مو هم خوړلې ده. دا خو مې درته ونه ویل.

عثمان وپوښتل:

- کوم کار ملاصاحب؟

ملاصاحب نا اشنا کس ته وکتل او ویې ویل:

- انجنیرصاحب! زموږ د کلي نوم خو درته معلوم دی؟ هېڅوک به هم ونه وایي چې ښه نوم دی. له همدې امله زموږ ډېر ماشومان د پېریانو، دېوانو او بلاګانو په وهمونو کې لوی شوي دي. دوی تل له مانه په جومات کې په دې اړه پوښتنې کولې. جنیات د خدای پاک مخلوق دی؛ خو موږ د بني ادم اولاده یو، پیریان نه یو. نو کلی هم باید زموږ په نامه شي. په تېره جلسه کې د کلي د نوم بدلولو خبره هم

یـاده شـوې او لـه نېکـه مرغه چې منل شـوې ده. بیایـې هلکانو تـه وکتل:

- پوهېږئ چې څه نوم پرې اېښودل کېږي؟

بهـادر، عثـمان او څـو ولاړو ماشـومانو یـو بـل ته وکتـل او بیا یـې په یوه غږ «نه» وویل.

ملاصاحب ځواب ورکړ:

- نومونـه ډېـر انتخـاب شـوي وو؛ خـو زمـا نـوم د ډېـرو خوښ شـوی. د همـدې ګلالیو ماشـومانو په احترام مـې انتخاب کړی و. خـو اوس نـه درتـه وایـم، په همغـه ورځ به معلومـه شي. اوس ورځــئ او کار پیـل کړئ.

د دوشـنبې ورځ د پېریانـو کلي لپـاره یـوه تـر ټولـو ښـکلې او برخلیـک ټاکونکـې ورځ وه. په ماشـومانو د اخـتر په څېر تېرېده او د هغـو کلیوالـو لپـاره حیرانوونکـې وه چـې د واده او جنازو له مراسـمو پرتـه یـې پـه خپـل کلي کـې نـورې سـترې غونـډې نـه وې لیدلې.

د ماشـومانو ترڅنـګ لویانـو هـم پـاک کالي اغوسـتي وو. ختـم روان و او د غرمنـۍ ترتیبـات هـم ن ـول شـوي وو. ملـک شـاه مـیر، د نـورو کلیو نه رابلل شوي سـپین ږیري او څو ښـاري مېلمانـه راغلـو کسـانو ته مخامـخ ناسـت وو. د کلي د هلکانو او نجونـو په شـونډو لـه خورو موسـکاوو یـې عجیبه خوند اخیسـته. بهـادر تـه تـر ټولـو عجیبـه د هغـه د دواړو ترونـو: بخـت مـیر او خیـال مـیر پخلاینـه او راتګ و چـې د غونډې په یـوه څنډه کې خـوا پـه خوا ناسـت وو.

شپه پس له ولایته یو راغلی مېلمه له خپلو کاغذونو سره د وینا لپاره پورته شو. ټولو ته یې په مینه او خندا وکتل او ویې ویل:

زه به د سپین ږیرو او مخورو ترځنګ د دې کلي له ماشومانو مننه وکړم چې په خپلو پوښتنو، ټینګار او غوښتنو یې درانه مشران مجبور کړل چې خپل کلی له محرومیت څخه وژغوري. د مکتب، سړک، حلالې کروندې او که ژوند و د کلینیک خاوند یې کړي.

تر ټولو مهمه دا چې دوی نه یوازې خپل برخلیک او اینده ته بدلون ورکړ؛ بلکې د کلي نوم یې هم بدل کړ. له دې وروسته به دا کلی د پېریانو او وېروونکو بلاګانو کلی نه، بلکې «د اتلانو کلی» بلل کېږي. موږ په اسنادو کې مکتب هم په همدې نوم لیکلی دی. دلته ټول ماشومان زموږ د کلي اتلان دي چې بهادر جان، عثمان جان، خالدګل، بدرالدین او غوټۍ لورجانه به یې سرلاري وي. تاسې ټولو ته د دې بري او ښه پیل مبارکي وایم.

راغلي مېلمه خبرې کولې، بهادر داسې احساسوله لکه کلي ته چې بې وخته اختر راغلی وي. د اختر په شپه به هم ډېر ځله له خوښۍ نه د همداسې حالت سره مخ و، خوب به نه ورته او د سهارنیو خوښیو لپاره به یې ذهني نقشې جوړولې. هغه غلی و او بیا یې عثمان ته وکتل، د هغه په اشاره یې وراندې ونې ته سترګې ور واړولې، دوې وسپنیزې تختې ورته درول شوې وې، په دواړو په غټو کرښو څه لیکل شوي وو. د یوې تختې کرښې د دوی لپاره یو څه سختې وې؛

خـو د دويمـې يـې بيا پـه سـختۍ او شـمېرلو الفاظو ولوسـتې:

((د اتلانو کلي ته ښه راغلاست))

پای